# همبستګۍ غږ

د افغانستان د همبستګۍ ګوند خپرونه

۷

پښتو

چنګاښ ۱۳۹۵






## د افغانستان د همبستګۍ ګوند
## د خپلواکۍ بیرته لاسته راوړلو ۹۷ یمه کلیزه ولمانځله



د ګوند موخې:

- خپلواک، آزاد، دموکراتیک او یو موټی افغانستان.
- د سیکولاریزم او دیموکراسۍ پر ستنو ولاړ ملي یووالی.
- د ښځو او نارینه او د هیواد ټولو پرګنو مساوي حقوق.
- د هر ډول بنسټ پالنې او بهرنۍ لاسوهنې پر وړاندې مبارزه.
- د امریکایي او ناتو نیواکګرو قوتونو سم لاسي وتنه.

# همبستګي

د امتیاز خاوند: د افغانستان د همبستګۍ ګوند

مسئول مدیر: سیدمحمود همرزم

ګرځنده: ۰۰۹۳-۷۰۰-۲۳۱۵۹۰

د جواز شمیره: ۸۷

## پدې ګڼه کې:


د افغانستان د همبستګۍ ګوند د خپلواکۍ بیرته لاسته‌راوړلو ۹۷یمه کلیزه ولمانځله ................ ۱

سخي جان، د روسي ضد مقاومت جګړې مبارز ................................................ ۳

ښاغلی خلیلزاده، خلک او تاریخ تاسي او ستاسي ګلبدین نه بخښي! ........................ ۹

د تورخم په پوله ښته او د خلګو له ملي احساساتو څخه ناوړه کټه اخیستل ..................... ۱۶

په پکتیا کې د امریکایي پوځیانو جنګي جنایت او د ارګ او رسنیو چوپتیا ...................... ۲۲

عبدالله د ولس د وینو په بیه څو زره ډالري جامې اغوندي ........................................ ۲۴

د اچین په ولسوالي کې د امریکا جنګي جنایات ................................................... ۲۷

د امریکا د بي پیلوټه الوتکو پخوانیو کارکونکو بربنډوونه او بخښنه غوښتل ...................... ۲۸

«د ګلبدین توغندویو زما دري ورونه شهیدان کړل» .............................................. ۳۴

د کابل په واټونو کې د شورای نظار د ځناورتوب انځورونه ........................................ ۳۶

کیږدۍ ناستي فرشته، د خپلو خیالونو کور انځوروي ............................................... ۳۸

داماني دورې دیرمختګونو په اړه دیوې لویدیځې ورځپاڼې شننه .................................... ۴۲

د دهمزنګ د ټول‌وژنې د قربانیانو له کورنیو سره لیدنه ............................................ ۴۶

د همبستګۍ ګوند د «مس عینک ژغورل» مستند ننداري ته وړاندې کړ ........................... ۵۰

پښتو ۷مه ګڼه، چنګاښ ۱۳۹۵ - جولای ۲۰۱۶

د ګوند کړنې



# د افغانستان د همبستګۍ ګوند د خپلواکۍ بیرته لاسته‌راوړلو ۹۷یمه کلیزه ولمانځله



۱۳۹۵ کال د زمري ۲۸مه (۲۰۱۶ کال د اګست ۱۸مه) د «افغانستان د همبستګي ګوند» د خپلواکۍ بیرته لاسته‌راوړلو ۹۷یمه کلیزه د امان الله پر قبر د ګل‌ګېډۍ په کېښودلو سره ولمانځله. په دغه غونډه کې چې د همبستګۍ ګوند د ننګرهار څانګې له لوری ترتیب شوی وه د همبستګۍ ګوند لسګونو تنو غړو او پلویانو ګډون درلود ترڅو د ولس له ریښتینی اتل څخه لمانځه وکړي. ډاکټر غلام فاروق د همبستګۍ ګوند یو تن غړي د امان الله خان پر قبر وینا وکړه او د هغه له کارونو او خدمتونو یې ستاینه وکړه. هغه په خپلې وینا کې وویل:

> «غازی امان الله خان د افغانستان دغه پرمختللی او پر خلکو مین شاه د هیواد له پر مختګ او ښېرازۍ سره خورا زیاته مینه لرله. د هغه ټوله هڅه دا وه چې خلک پوهه وکړي ترڅو د خپلو متو په زور هیواد له تیارې څخه وژغوري او د پرمختګ پر لوری یې بوځي. نن دلته راټول شوی یو چې د هغه له ښه کارونو څخه

زده کړو. شـاه امان الله خان غښتلي اراده او د خلکو ملاتړ له ځانه درلود او همدا کار ددی لامل شـوی چی انګریزان له هیواد څخه وشړي او د افغانستان خپلواکي لاس ته راوړي.»




هغه زیاته کړه:

«که مونږ ټول یو موټی شـو او د ولســونو پر منځ کی ریښتینی پیوســتون رامنځ ته کــړو او هر ډول تبعیض لــه خپلو اندونو لری کړو، کولای شــوی تر ټول ســتر دښــمن ته نه هیری‌دونکی ماتې ورکــړو. ددی اصلی دلیل چی نن تر خلویښــتو زیاتــو هیوادونو او د هغوی په ســر کی امریکا پر افغانســتان یرغل کړی د تنظیمی او قومی مشــرانو خیانت دی. دوی د پیســو په بدل کی په ګنو پلمو خلــک غولوی او د هغوی فکر لــه اصلی مبارزې څخه بل لوری ته اړوی او د پرګنــو تــر منــځ اختلافاتو ته لمن وهی ترڅــو هیواد په بدمرغیو کی لا هم ډوب شــی. له اوســنی حالاتو څخه د خلاصون یوازنــۍ لاره یووالــی، پوهــه او د هر ډول اپلتو او هره هغه شــی پر وړاندی چی د پرمختګ خنډ ګرځی مبارزه ده.»

د یادونی وړ ده د همبستګۍ ګوند په پام کی لرل چی ددغې ورځې په ویاړ په کابل کی لاریون وکړي، خو د ډېرو هڅو ســربیره د کورنیو چارو وزارت په دغه پلمه چی د دهمزنګ له پیښــې وروســته تر بل خبر پوری په هر ډول لاریون بندیز لګیدلی، د لاریون اجازه ورنکړه.



لیکونکی: د افغانستان د همبستګۍ ګوند

# سخي جان،
# د روسي ضد مقاومت جګړې مبارز



سخي جان، د روسي ضد مقاومت له مبارزانو څخه وه چې په پوره میړانه د نیواکګرو اود هغوی چوپړانو د جګړې لښکر ته ولاړ او له هیواد څخه د روسانو په وتلو سره یې، خپل ټوپک کیښود او په غریبی کې ولې په لوړ همت یې ژوند وکړ. «د افغانستان همبستګی ګوند» د هغه سربښندونو او د دغې زیارکښ انسان نرم شخصیت ته په احترام کولو چې په خواشینۍ سره څه موده مخکې سترګې له نړۍ څخه پټې کړې، په لنډه توګه د هغه د ژوندانه کړنې خپروي.

غلام سخي د جمعه خان زوی په ۱۳۳۴ لمریز کال کې د خیوی ولسوالی، د قلعټک د پشه‌ای ملیت په یوې بیوزله کورنۍ کې نړۍ ته راغی. پلار یې بزګر و چې په ډیرو ستونزو کې یې شپې ورځې تیرولی. غلام سخي د دې په خوا کې چې ښونځی ته تللو د ځمکو پر مخ یې کارکاو. د سیدجمال الدین د لیسی د شپږم ټولګی زده کونکی وه چې پلار یې ومړ او د ځلور کسیزې کورنۍ مسئولیت د هغه په غړه پاتې شو.

غلام سخي اړ شو چې د بزګرۍ او د محصولاتو پلورلو لپاره، ښونځی پرېږدي. هغه سخت کار کاوه تر څو د خپلې کورنۍ ته یوه مړۍ ډوډۍ پیدا کړي.

غلام سخي خوښ طبع او ولس پاله سړی وه. څه وخت چې د کار څخه ستړی کیده خلک یې خپل خواته راټولول او شپیلی به یې غبرګوله تر څو یوې شیبې لپاره خپل درد او رنځ هیر کړي.



سخي جان په جبهه کې
اله ښي نه کیڼ لوری ته، لومړی کس

کله چې روسانو پر افغانستان یرغل وکړ د غلام سخي ژوند کې ستر بدلون راغی. په هغه وخت کې چې خلک د هیواد په ګوټ ګوټ کې د خلق او پرچم د جنایتونو څخه پوزې ته راغلي وه لاس یې په مبارزه پورې کړ، د مبارزو روڼاندو یوه ډله دره‌نور تـه ولاړه تر څو د خلکو په راغونډولو باندې د مقاومت جبهه جوړه کړي. غلام سخي چې د مخکې نه یې یو شـمیر دغو مبارزانو سره پیژندګلوی لرله له لومړني کسانو څخه وه چې دغې ټولګې سره یوځای شـو. هغه خپله ګاډې چې په هغې باندې یې ترکاري د خرڅلاو لپاره وړله خپل لس کلن وراره ته وسپارله او ورته یې وویل: «له دې څخه وروسته زما دنده د هیواد او خلکو څخه ساتنه او ستا دنده د کورنۍ څخه ساتنه ده.»

ملګرو یې د مینې له مخې، هغه ته چې هر کله په خندا، له ځان تیر او زیارکښ وه، «سخي جان» ویلې. هغه وخت چې په ۱۳۶۳ کال د دره نور جبهه جوړه شوه، هغوی ډیر لږ امکانات درلودل. سخي جان د خطر څخه ډکې لارې (د دولت د پوستو او د حزب اسلامي د ویني‌ښبونکو قومندانانو د جبهاتو څخه تیریدل) یې مزل کاوه او د خیوی د ولسوالي څخه یې دره‌نور ته خوراکي او نور ټول د اړتیا وړ توکي رسول. هغه تل د جنګ په لومړۍ لیکه کې ولاړ وه. که څه هم د لارې په اوږدو کې تل د نیولو کیدو ګواښ او آن د دولت له خوا د سمدستي اعدام شتون

درلود، خو سخي جان د وسلو او مهماتو او د ټپیانو لیږدول هم په غاړه اخیسته. هغه به ټپیان د جګړې د لیکې څخه په ډېرو ستونزو ولسوالۍ ته او د هغه ځای څخه به یې د جبهې شاته لیږدول.

مرزا یو تنه دهغی د همسنګریانو څخه وایي:



مرزا: «سخي جان په بشپړه توګه یو بل ډول انسان وه. معمولاً څه وخت چې د عملیاتو څخه راستنیدو او په غرونو کې به پیاده تللو ولې سخي جان به ستړیا نه پیژنده. او وروسته د راګر ځیدو څخه به یې خپله شپیلې راخیستله او د هغې په غبرولو په یې مونږ ته روحیه راکوله.

«سخي جان په بشپړه توګه یو بل ډول انسان وه. معمولاً څه وخت چې د عملیاتو څخه راستنیدو او په غرونو کې به پیاده تللو ولې سخي جان به ستړیا نه پیژنده. او وروسته د راګر ځیدو څخه به یې خپله شپیلې راخیستله او د هغې په غبرولو په یې مونږ ته روحیه راکوله. له دې سره چې ډېر مکتب یې نه وو لوستی خو خورا هوښیار او تیزلید او صحیح او ریښتینی انسان وه. هیچکله به یې د چا تیروتنې نه پټولې، په جرئت سره به یې وړاندې کس د قومندان څخه نیولې تر مجاهد ټول یې د نیوکې لاندې نیول. د هغه یو بله ځانګړنه دا وه چې خپله خطا به یې د روڼاندوه په ډول نه پټوله بلکې په زغرده به یې په خپله تیروتنه او خطا اقرار کاو.»

په هغه وخت کې چې د سخي جان دوی پوځي تمځای خو ځلې د روسانو لوټمار لښکر د بریدونو لاندې ونیول شو، هغه خپله میرمنه چې یو ریښتینې مبارزه ښځه وه دره‌نور ته له ځانه سره راوستله تر څو د کارونو په مخکې وړلو کې برخه واخلي. میرمنه یې چې سرورو نومیده د نورو کارونو سربیره، هر ورځ تر ۴۰ ټیکلې تنورې ډوډۍ مجاهدینو ته پخولې هیڅکله له دغو درندو کارونو څخه نه ستړې کیده. هغه کسان چې نوی د جبهې سره یوځای کیدل او په لومړنیو عملیاتو کې برخه اخیسته، سخي جان به د هغوی سره زړه خوږې کاوه او ویل به یې چې

موږ د هیواد لپاره جنګیږو او په خپله سیمه کې یاستو نو په دې بلد یو چې خپل دښمن ته سنګه ګوزار ورکړو او خپل ځان وژغورو.

سخي جان په هغې جبهې پورې تړاو درلود چې نه یوازې د روسانو او چوپړانو د بریدونو لاندې، بلکه د اخواني باندونو او په ځانګړې توګه د حزب اسلامي د کرغیړن کوند له بریدونو هم خوندي نه وه. هغوی اړ وو چې په دو جبهو کې وجنګیږي او اجازه به ورنکړي چې سیمې یې د تنظمي قومندانانو له خوا ونیول شي او د ویجاړۍ په لور ولاړې شي.

حضرت د سخي جان د هم سنګریانو څخه یو تن له هغه څخه خپل خاطرات داسې بیانوي:

«۱۳۶۴ کال وه چې د بوډیالۍ کلي د روسانو له خوا د سخت برید لاندې ونیول شو. خلک په ورخطایي سره هرې خواته خواره شول، برید لا دوام درلود چې د غر له خوا د شپیلي لوړ غبر زموږ غوږونو ته راورسید. سخي جان د غر لوړې څوکې نیولې وې او شپیلي یې غږوله. او خلکو ویل چې دا سړی لیوني شوی چې په داسې حالت کې شپیلي غږوي. څو شیبې نه وې تیرشوې چې په لوډسپیکر کې یې په لوړ غږ د کلي خلکو ته وویل: "چیر ته ځئ؟ په تیښتې سره نشي کولی چې د دې ویر څخه خلاصون ومومی. باید په یوځای او یو موټي په توګه د دغه ناولي دښمن پر وړاندې ودریږو او وجنګیږو تر څو خلاصون ومومو.»

د روسانو له وتلو څخه وروسته، سخي جان خپله وسله پر ځمکه کیښوده او هغه وخت چې د تنظیمي ډلو ترمنځ جنګ ونخته هغه هم د زرګونو افغانانو په څیر پاکستان ته کډوال شو او په هغه ځای کې یې هم یو ټوټه ځمکه په باړه ونیوله د کښت او زراعت له لارې یې خپلې کورنۍ ته نفقه موندله. هغه شپه او ورځ زیار ویستلی خو د خپلو اولادونو ښووني او روزنې ته یې پوره پام درلود. سخي جان په ځانګړې توګه د خپلو لورګانو ښووني ته پام کړی وه تر څو چې په راتلونکی کې د خلکو او هیواد چوپړ ته هوښیارې او د بیلګې وړ انجونې وشمیرل شي.

دغه لوړ هوډ لرونکی انسان په هغه کچه چې د روسانو او د هغوی د چوپړانو څخه یې کرکه درلودله په څو مرتبو ډېر د ایراني او پیښوري اخواني باندونو څخه بیځاره وه او هغوی یې د خلکو دښمنان او هغه کسان پیژندل چې د شا له خوا ولس په چاړه وهي او د افغانستان د شاتګ

او بدمرغۍ لاملان دي.

په هرځای کې چې د عدالت غوښتنې او د بنسټپالو پر وړاندې د مبارزې غږ اوچت وه، سخي جان به په هغې کې برخه اخیسته. افغانستان ته د راګرځیدو څخه وروسته، «د افغانستان د همبستګۍ ګوند» په ټولو لاریونونو کې ګډون کړی. نقیب یو تن د سخي جان د دوستانو څخه وایي:



د ننګرهار په خیوې ولسوالۍ کې
د سخي جانه غریبانه جونګړه

«د افغانستان همبستګۍ ګوند د ایران دمبارزانو په پلوی په کابل کې لاریون په لاره اچولی وه چې سخي جان هم پکې ګډون درلوده. د لاریون په پای کې هغه ما ته وویل چې هغه وخت به زما زړه آرام ومومي چې د خلکو ستره ډله ګلبدین د ولس دغه وژونکی ونیسي او په همدغه ځای کې په دار وځړوي. یواځې شعار بسنه نه کوی باید دغه شعار په خپل ایمان باندی بدل کړو او هغې ته د رسیدلو لپاره جدی کار وکړو.»



سخي جان په ۱۳۹۴ کال کې د وینې د لوړ فشار له کبله ژوند د لاسه ورکړ خو د خپل ځان څخه یې د نه تسلیمیدلو او پر ستونزو باندې بریا او د هیواد خپلواکۍ سره د مینې درس پریښوده.

ولې په خوشینۍ سره د ستونزو ډک ژوند او د خپلې میرمنې د لاس ورکولو ویر هغه ته د نور ژوند کولو چانس ورنکړ. سخي جان په ۱۳۹۴ کال کې د وینې د لوړ فشار له کبله ژوند د لاسه ورکړ خو د خپل ځان څخه یې د نه تسلیمیدلو او پر ستونزو باندې بریا او د هیواد خپلواکۍ سره د مینې درس پریښوده.

سخي جان د مقاومت جګړې د زړګونو مبارزانو یو ښه بیلګه وه چې د خپل سر ځخه په تیریدو سره د روسانو له منګولو ځخه د افغانستان خلاصون په لاره کې وجنګیده او په سر کې یې د خپلې خاورې د آزادۍ او ښیرازۍ هیلې درلودلې. خو پردي‌پاله او ظالم تنظمي مشران، په خیانتونو او معامله کولو یې د دغه ولس ټولې لاس ته راوړنې له منځه یوړې او افغانستان یې په جنګ او ناورین کې نور هم ډوب کړ او د ځلوېښتو ځخه په ډیرو هیوادونو یې خرخ کړ.

نن ورځ په خواشینۍ سره د «جهاد او مقاومت» ټبکه دارانو چې زموږ د ولس آزادۍ غوښتونکي مبارزي اصلي لورې یې اړولې دي، او په بیشرمۍ سره خپل ځان په لوړ غږ اتل بولي او په دغه نامه زموږ د هیواد شتمنۍ لوټ کوي، خو د دغې مقاومت د اصلي اتلانو ځخه چې سخي جان د هغوی ځخه یو تن دی، هیڅ یادونه نه کیږي.




**د ایران او عربستان رژیمونه، د منځني ختیځ ویروسونه**

کارتونیست: Dana Summers



لیکونکی: فرزاد

# ښاغلی خلیلزاده، خلک او تاریخ تاسی او ستاسی ګلبدین نه بخښی!



د ګلبدین خوسا شوی مړی ته ساه ورکولو په نوی لوبه کې، امریکا او چوپړان یې د خلکو په ناپوهۍ کې ساتلو سره هڅه کوي چې د سي‌آی‌ای دغه وفادار چوپړ په خیره کې د وینو ټکې د «سولې فرېښتې» په جامو کې پټې کړي، او یو ځل بیا یې زموږ په ملت راوتپي. په افغانستان کې امریکایي سلاکارانو او د سپیني ماڼۍ کورنـي چوپړانو د ټولو پام د «توتاپ» شخړې او د ملا منصور وژلو ته راواړوه تر څو د تیرو څلورو لسیزو یوې وینې څښونکې څیرې ته د «ښه راغلاست» لاره هواره کړي. ګلبدین، د امریکا دغه نازولی ځوی چې په تیرو ۱۵ کالونو کې په ظاهري ښه «مرور» بلل کېده خو عملاً یې د کابینې نیمایي برخه په لاس کې درلودله، کیدای شي چې په نژدې راتلونکې کې د ارګ میلمه شي. خو له وړاندې ټولې هڅې ددې لپاره وې چې په څه چل باندې دغه رټل شوی او بویناک جنایتکار سپین کړي او د ملي ځناورتوب له دو سرې حکومت سره یوځای شي. په دغه خاینانه لوبه کې، زلمی خلیلزاد هم

پیخې بډوولې وې.

امریکایي خلیلزاد چې د یو «افغان» او «مسلمان» په جامو کې د امریکا له خوا د افغانستان د نیولو کړنلارې لـه مهمو غړو څخه وو، د ۱۳۹۵ کال د غویي په ۳۱ نیټه یو خبریال ته په کابل کې ویلي دي:

«هغه تیروتنې چې هغوی ترسره کړې دي په تاریخ کې ثبتي دي نو په همدې بنسټ نه باید د بخښنې غوښتلو څخه ویره او شرم ولري. دا چې ګلبدین غواړي چې د افغانستان د حکومت سره یوځای شي، یو ښه ګام دی خو د افغانستان حکومت او ملګري یې باید هوښیار اوسي چې دغه بدلون حقیقي دی او د هغې تر شاه کومه لوبه نه ده روانه.»

ښاغلی خلیلزاده، اول خو د یو جنایتکار اصلي ملاتړی حق نلري چې زموږ د بچو وژونکي تـه سزا وټاکي او دوهمه خبره دا چې د زرګونو کسانو وژنه «تیروتنه» نومول او هغې سزا یوې «بخښنې غوښتلو» تـه راټیټول آن ستاسـو د امریکایي بشري حقونـو د میعارونو پربنسټ سـتره بیعقلي ګڼل کیږي. تاسي د یولسم سپتامبر په پیښه کـې د درې زره وژل شوي امریکایانو غچ اخیستلو لپاره نړۍ تر خپو لاندې کړه سلګونه زره مـو پـه عـراق، افغانستان، سوریه او لیبیا او ..... خاورو او وینو کې لتپت کړل، آیا د سلګونو زرو افغانانو وینه دومره بی ارزښته ده چې په یوې «بخښنې غوښتلو» باندې د بخښنې وړ وګرځي؟

> **«حکمتیار د امریکا د سی‌آی‌آی له لوری د ضیاالحق یو محصول دی. هغه په داسې حال کې چې په پیښور کې ناست وه، د پیسو پراخه مرستې یې تر لاسه کولې. امریکایي رسنیو په هغې باندې د ستاینې باران کړی او نفس یې ورلـه دا رنګه اوچت کړی چې نور هغه ورته د کار وړ نه دی خو د افغانستان خلکو لپاره یې د هغه څخه بلا جوړه کړې ده.»**
>
> «دی نیوز» ورځپاڼه
> پاکستان ( ۲۳ اګست ۱۹۹۲)

هغه «لوبه» چې د «سـولې پروسې سـره د ګلبدین یوځای کیدلو» تر شا روانه ده د لمر په شان ښکاره ده. دغه په پور توګه څرګنده ده که

چيرې ګلبدين او د هغه په شان نور په ريښتيا سره امريکا ته ګواښ شميرل کيدی، پنتاګون په ۲۴ ساعتو کې کولی شو چې هغوی ډيران ته وغورځوي ځکه چې د دغه ډول چوپړو ګوندونو په کړنو ورنو پوره برلاسي لري او د هغو له هر څه خبر دی. خو د ګلبدين په شان مزدوران او د جرم شريکان يې د زيرمه شوی ځواکونو په څير بدی ورځې لپاره ساتل کيږی تر څو د ځانګړی شرايطو لاندی د شطرنج دانې په څير د لوبی ډګر تا راننوځي. او نن ورځ دغه امريکا ده چې خپل پخوانی او آزمايل شوی جاسوس رامخکی کوی تر څو د عمر په پای کی، کيدای شی چې خپل واکدار لپاره ورستی ماموريت سر ته ورسوی.

زموږ خلک نه جلاد ګلبدين بخښي او نه هم تا او ستا زرګونه تنه نور امريکايی نيواګر چې پور ۱۵ کاله يې په وژلو او قتلونو او ويجاړی او چاودنو افغانستان يې په ماتمخونی بدل کړی دی. زموږ خلک نه يوازی ګلبدين بلکه د هغه نور همفکر او جنايت کونکی ورونه يې چې تا «اتلان» بللی، هيڅکله نه ببښي، نوره يې په تجربه موندلی ده چې يوازی د واکمنانو په شړلو او محاکمې سره کولی شي چې په ارامۍ سره ساه واخلی. ستا ځناورنازونکی خرګندونې يوازی د خلکو پر ټپونو مالګه شيندل اود هغوی سياسی شعور سره بی شرمانه لوبی کول دی چې له نيکه‌مرغه د بناديو دغو نکريزو د هغوی پر وړاندی خپل رنګ بايللی دی.

آرتور کينت دنوامبر ۲۰۰۷ «ګزينه‌های سياست» د کاناډا چاپ مجله کی په ګڼه کی د کرزی فاسدی اداری په جوړولو کی د خليلزاد ونډه څيړي. هغه وخت خليلزاد ډير کوښښ کاو چې ناجوړه پښتانه د کرزی په اداره کی وګماری او دهغې ډلې څخه د اطلاعاتو او فرهنګ وزير، کريم خرم او لوی سارنوال جبار ثابت نومونه اخلی چې دواړه بنسټ پاله او د ګلبدين اسلامی ګوند پور تړلی دی. ليکونکی د اروپايی ډيپلمانانو څخه نقل کوی چې د خليلزاده له دغه سياست سره مخالف ول. هغه د خليلزاد د پخوانی توکم‌پالنی په اړه داسی ليکی.

**«هغه وخت ۱۹۸۰ کالونو په لړ کی چې خليلزاد د ريګان اداری په چوپړ کی وه، په افغانستان کی د روسی ضد مقاومت کی له ځينو کړيو ملاتړ کاو چې د هغه پښتون ولس پوری تړلی وه سره له دی چې سخت دريزه افکار يې درلودل. هغه د ګلبدين حکمتيار په شان بنسټپالان د پام لاندی نيول .»**

ښاغلي خليلزاده، كه تـه زرګونه ځل نور هم د امريكا ملاتړ شـوى رسنيو خبر جوړونكى خيرې په توګه، د «افغانستان د خلكو ملګرى» په جامه كې راڅرګند شي او يو موټى پلورل شوى روڼ اندى تاته ښكته او پوره او مكيز وكړى، خو زموږ د هيواد تاريخ به تا هيڅكله ونه بخښي. ته د بنسټپالې ترهګرۍ اصلي ملاتړو څخه وى چې پوره څلويښت كاله دى نه يوازى د افغانستان خلكو لپاره بلكې ډيرو مسلمانو هيوادونو ته خطرناكه ويروسونه روزلي دى. بې‌ځايه نه ده چې د امريكا پرمختللو رسنيو تا ته د «اسلامي هيوادونو ترور لپاره د امريكا ځانګړى استازى» لقب دركړى دى.

پـه افغانستان كې د جورج بوش د ادارى د لومړى كس په توګه او د چينى، كاندوليزا رايس، دونالد رامسفلد او نـورو ځناورو ملګري په څير او په كابل كې د امريكا سفارت كې د درى كالو ماموريت په لړ كې زموږ د هيوا د ويجاړى او نيولو كړنلارو پر مخ وړلو مسوول په توګه، په بيرحمى او جنايتونو كې د ګلبدين څخه كم نه يې. ستا لاسونه په غير مستقيم ډول د زرګونو افغانانو په وينو ككړ دى. ته د سى‌آى‌اى «راند كارپوريشن» روزل شوى په توګه او د سپينې ماڼۍ د استازى په توګه د ريګن د دوران څخه تر اوسه پورى، پوره څلور لسيزى پرته له ځنډ څخه د ناپوه بنسټپالانو او ظالمان په ملاتړ، په وسلو سمبالولو دى هڅه كړى ده افغانستان دى د اور په كټې بدل كړى ده. تا د امريكا لپاره زموږ د هيواد نيولو لپاره د مكناتن په ډول رول لوبولى دى، خو انګريزى مكناتن د اتل وزير اكبرخان له خوا خپلى سزا ته ورسيد، تاسى د بى ۵۲ او بى پيلوټه الوتكو تر سيورى او د يو شمير امريكا د ناولو نوكرانو سره د هيواد د په ويجاړى كې بوخت ياستي چې له نوم پرته بل هيڅ ډول تړاو او اړيكه له هغه سره نلرى.

ستا مرسته له ځناور ګلبدين سره، څو لسيزى سابقه لرى. د «الجزيره» تلويزون سايټ د ۲۰۱۲ كال د جنورى پـه ۲۸ نيټه په يو مقاله كې د «په افغانستان كې د ګلبدين بى پاى جنګ» تر سرليک لاندى پـه ۱۹۸۵ كال كې د امريكا متحده ايالاتو ته د ګلبدين سفر په اړوند، د ريچارد بوليت د كلمبيا پـه پوهنتون كې د تاريخ پروفيسور څخه په نقل، ليكلى هغه وخت چې مى په نيويارک كې د ګلبدين د وينا په پروګرام كې ګډون وكړ، هغه د زلمى خليلزاد له لورى، د ريګان دولت

د افغانســتان په مســایلو کې د بهرنیو چارو وزارت ستر سلاکار ملګرتیا کیده:

«زما بشپړ احساس د دغه سـفر څخه دا وا چې حکمتیار د یو هوښیار سیاستمدار په ډول هر هغه څه چې ورته خلیلزاد ویل پلی کـول بـه یې تر څو د امریکا دولت د مرسـتو څخـه خپل ګوند ته اطمینان تر لاسه کړی.»


خالص، خلیلزاد او ریګان

زمـوږ خلک بـه هیر نکـړی چـې د طالبانـو منځنـی پیړیـو واکمنی، په لړ کی چې زموږ ولس د ناپوهـی او جنایـت په اور کـی سـوزیده، تـه د «یونیـکال» د سـلاکار پـه توګه د تیرې عصر د ځناورو سره و غاز لیکې پـه ګټور ترون بوخت وی او د ګټې لاس ته راوړلو پر سـر چمتو وی زر ځلې «بشـری حقونه» او د افغانستان د خلکو برخلیک قربانی کړی. د کلنتن په اداره کی په لابی ګیری سـره، د «طالبانو سـر نژدی کیدل» او د طالبانو دولت په رسمیت پیژندلو غوښتونکی وه او داسی استدلال یـی کاو چې «طالبـان د امریکا ضد ایران ډوله بنسـټپالی څخه پیروی نـه کـوی- هغوی سـعودی ته ورتـه دی... موږ باید په خپل وار سـره رسـمیت پیژندلـو تـه لیواله او د نړیـوال اقتصاد د بیا رغونـی ترویج په موخه بشردوسـتانه مرستو وړاندی کولو لپاره چمتو وسو.» (واشنګتن پست، ۷ اکتوبر ۱۹۹۶)

د بوش بدنامه دولت د ژبی په خیر، په ۲۰۰۱ کال کی د عامه فکرونو اړولو لپاره دی اعلان وکړ چې «امریکا د ماضی څخه په درس اخیستولو نور د بنسټپالی ځواکمنولو لپاره به هیچکله مرسته ونکړی» خو عملآ د بن کنفرانس د پردې ترشا د اصلی ګرځونکی په توګه، «شمالی ټلوالی» کرغیړن او ویجاړونکی بنسـټپالان دی د سـمڅو څخه راوویسـتل او د کرزی د لاسـپوڅی دولت په مهمو پوسـټونو کی دی وګمـارل او تر نن ورځـې د هغـوی څخـه ملاتړ کـوی چې پـه پایله کی یی هـر یو تن یی



د بوش بدنامه دولت د ژبې په ځیر، په ۲۰۰۱ کال کې د عامه فکرونو اړولو لپاره دې اعلان وکړ چې «امریکا د ماضي څخه په درس اخیستولو نور د بنسټپالې ځواکمنولو لپاره به هیڅکله مرسته ونکړي»

په داړونکو بلاګانو او میلیاردرانو باندې بدل شویدي. هغه ته وي چې په ویجاړونکو سلاګانو دې افغانستان په زوني او ژبني او ملیت پر بنسټ وویشه، دهغه او دغه قومونو ټیکه‌دارن دې په موږ واکمن کړل او هیواد دې د قوم پرستې په ځنډې کې ډوب کړ. د دغه خیانت په خاطر ددې په ځای چې افغانستان خلکو ته پښیماني وښایي، په ویاړ سره په «طلوع» او نورو رسنیو کې په خپلو فرمایشي مرکو کې له هغو څخه یادونه کوي.

څوک دې چې نه پوهیږي تا د امریکا ویسرا په توګه د کرزي په کابینه کې د کسانو په ګمارلو او لرې کولو کې اصلي ونډه درلوده او په اصل کې د ارګ «نایب‌السلطنه» وې.


خلیلزاد د امریکایي ویسرا په توګه د کرزي په کابینه کې د خلکو په ګمارلو او لرې کولو کې مهم رول درلوده او په اصل کې د ارګ «نایب‌السلطنه» و. د ملي خاینانو په نازولو سره یې، افغانستان د نړۍ تر ټول فاسد او خیانت‌ځپلی هیواد باندې بدل کړ.

د ملي خاینانو په نازولو سره دې، افغانستان د نړۍ تر ټولو فاسد او خیانت‌ځپلی هیواد باندې بدل کړ. له ناتارکونکو سره دې مینې لامل وه چې څه وخت دې په کابل کې د سفیر په توګه ماموریت پای ته ورسید، د ګلبدیني کرغیړنو اولادونو څخه یو تن د ملا فضل هادي شینواري په نوم (چې هغه دې د قاضي‌القضات په څوکۍ ټومبلی وو) وارخطا شو او زر یې جورج بوش ته د زارۍ ډک لیک ولیږه چې د ماموریت وخت یې

«د مثبتې کړنې په لامل وغزوي.» (بي‌بي‌سي، ۵ اپریل ۲۰۰۵).

د ګلبدین سره د «سولې هوکړه‌لیک» چې په هغې کې د ګلبدین ټول شخصي لګښت اوعاید لیکل شوی یوازې کولای شي د ددغه جنایتکار د ځو هم بانډو زړه لاس ته راوړي نه د افغان کړیدلو خلکو چې له راکتیار او د هغه له ټوپکمارانو څخه ژوره کینه لري. د توغندیو ویشتل، د روڼاندو ټول‌وژنه، پر ښځو تیزاب شیندل، پاکستان او ایران ته نوکری، ځانمرګي او غلا او زرګونه نور ځناوتوبونه چې د ګلبدینیانو له خوا تر سره شوي، هیرول لکه د عبدالله او غني او خلیلزاد په څیر خوب‌وړي وجدانونه غواړي چې ولس به هیڅکله په غولونکو تبلیغاتو هغه له یاده و نه باسي او هیڅکله به یې ونه بخښي.

که امریکا په هر نوم او نښې خپل جوړ کړی طالبي او یا تنظیمي لاسپوځي سینګار او درواغجنو او په زوره تپل‌شوو لقبونو په ورکولو سره وغواړي د کابل په لاسپوځي کې بیا ځلي ځای پر ځای کړي غیر د دې نه چې د ولس د وژونکو او جنایتکارانو کړی پوره کړي د افغانستان سیاسي راتلونکې لپاره هیڅ ګټه نه لري. له هغې ورځې څخه چې د ګلبدین د راتللو غږ پورته شوی، په شمال کې د حزبي او جمعیتي او جنبشي تنظیمي قوماندانان لکه د سپو په څیر سره نښتي دي چې د وژلو او ویجاړۍ څخه پرته بله پایله نلري. خو دغه لړۍ پرته له ګمانه د امریکا نیواکګر دولت ګټه له ځانه سره لري چې په نوې سره جګړه کې چې د روسیې او چین په وړاندې یې په لاره اچولې، د دغو پخوانیو ازمایل شوو او کارپوه چوپړانو څخه یوځل بیا د خپلو استراتژیکو ګټو په لاره کې کار اخلي.

له حزب اسلامي او طالبانو سره د خیالي «سولې» تر شا، ویجاړونکې او مشکوکې کړنلارې پټې دي. زموږ خلک نور ځلور لسیزې دي دغه حقیقت ته رسیدلي دي سوله او ټیکاو د انسان‌خوارو او غلو او په نورو پورې تړلو ځواکونو په ټړنه باندې هیڅکله منځته نه راځي. حزب اسلامي چې تاریخ یې په معامله کولو او غلامۍ او د پرمختګ او انسانیت سره په ضدیت باندې ککړ دی، یوازې جګړې او وژونې دیو دی او نه د «سولې فرښته».



اعلامیی

# د تورخم په پوله نښته او د خلکو له ملي احساساتو څخه ناوړه ګټه اخیستل



له څو ورځو راپدی خوا، د تورخم په پوله کې د افغانستان او پاکستان د ځواکونو ترمنځ د پولیزې نښتې غبرګ تولو ځایونو کې خپور دي. د پاکستان سره د جګړې بازار په ټولنیزو شبکو کې په ځانګړی توګه په فسبوک کې تود دي او آن د نور پیښو انځورونه د پولیزې جګړې تر نوم لاندي خپرېږي.

افغانستان یو نیول شوي هیواد دي د دولت د رسمی شمیرو پر بنسټ د ۱۰ میلیونو څخه ډیر د بیوزلۍ تر لیکې لاندی ژوند کوي؛ ځانمرګي او چاودنه په یو عام امر بدل شوی او هره ورځ زموږ د لسګونو تنو هیوادوالو ژوند اخلي؛ جنګي جنایتکاران د محاکمې پر ځای ارګ ته ځي؛ د «نړیوالي روڼتیا» سازمان په جدول کې افغانستان د نړۍ دریم فاسد هیواد دي؛ د «نړیوال رغتیایي سازمان» د شمیرو له مخې، افغانستان د نړۍ دریم هیواد دي چې له پنځو کلو څخه ښکته ماشومانو مړینه پکی په لوړه کچه ده؛ د «ملګرو ملتونو جمعیت صندوق ــ یوان‌اف‌پی‌ای» او د «ملګرو ملتونو کوچنیانو صندوق ـ یونیسف»، د شمیرو له مخې افغانستان په آسیا کی د زیږون په وخت کې د میندو

مړینه کې تر ټولو لوړه کچه او په نړۍ کې دویم مقام لري؛ او په نړۍ کې د کوکنارو اصلي تولیدونکې څخه دي چې په نشه‌یي توکو روږدي ۳.۵ میلیونه وګړي لري؛ او کانونه یي د دولتي ټوپکمارانو له خوا لوټ او تالان کیږي؛ د ټولپوښتنو پر بنسټ ډیری خلک د «ملی څناورتوب حکومت» څخه ناخوښي دی او لسګونه نور ناورینونه.

**د ناعادلانه جګړو تاریخ ددې ګواه دي چې خاین او بې کار رژیمونه د خپلو کمزورتیاو پټولو لپاره کله کله د جګړه او له ګاونډیانو سره د دښمنۍ درواغجن ډوهل وهي تر څو د خلکو ملی احساساتو سره لوبې وکړي.**

له بلې خوا پاکستان په فساد کې د ډوبیدو او بې امنیې او سیاسي کړکیچ برسیره، د څواکمن اقتصادي ناورین سره نښتې دي او په ځانګړې توګه د هیر شوی ایالتونو خلک یي سختې ورځې تیروی. په څو وروستیو کلونو کې آفتونه او طبیعی پیښې د بې‌رحمه دیو په څیر ددغه هیواد بیوزله او مظلوم خلک یې بدمرغۍ لوری ته یوړل. سیلاب، زلزله او په ځانګړي توګه وچکالي او قحطی هرکال سلګونه زره انسانان په دغه هیواد کې د مرګ له خطر سره مخ کړی دی چې ډیرئ قربانیان یې ښځې او کوچنیان دي. هر کال لسګونه تنه د وژونکې فقر پر بنسټ په ډله‌یزه توګه ځان‌وژنه کوی څو د دغه هیواد خاین‌روزونکی دولت د اتمی څواک خاوند دي او د کلنی ملي بودیجې ډیري برخه یې پوځې چارو او د ترهګرۍ ملاتړ او روزلو کی لګوی.

د ناعادلانه جګړو تاریخ ددې ګواه دي چې خاین او بې کار رژیمونه د خپلو کمزورتیاو پټولو لپاره کله کله د جګړه او له ګاونډیانو سره د دښمنۍ درواغجن ډوهل وهي تر څو د خلکو ملی احساساتو سره لوبې وکړي. اوس هم د افغانستان او پاکستان دولتونه د عامه ذهنونو اړولو لپاره او د خپلو بې شمیرو خیانتونو پټ ساتلو لپاره د غبرونو څخه ډکې نښتې او داعوی په لاره اچوي او د خلکو په غولولو بوخت دي تر څو په دي ګډوډۍ کې د یوې شیبې لپاره په ارمتیا سره ساه واخلي او د پردې تر شا خپلو معاملو او لوټ ته ادامه ورکوی.

عجیبــه کار دادی، د هغوي چې کولمه یې په آی‌ایس‌آی پورې تړلې او یا هم د سی‌آی‌ای، کی‌جی‌بی او واواک په لاس روزل شوي دي، نن ورځ د پاکستان سره د جګړې ډوهل غږووي. هغه مرتجع کسان او ډلې چې تر پرونه یې له امریکا سره د دوه اړخیزه امنیتي تړون په ملاتړ خپلې مرې خیري کولی او په بي شـرمې سـره یي په دغه هیواد دخرخولو په لاسوند باندي د تایید مهر واهه، په ناخاپي توګه په خپلو کرکجنو خیرو باندي نوي نقاب راوکاږه او د هیواد او ملی ناموس د دفاع چیغې وهي. نیواکګـر، نیواکګـر دي، که څه د پاکســتان دولت وي یــا امریکا یا هم روس او انګلیس.



په پیښور کی د ښونځي ماشومانو د وژلو غندلو په موخه
د پاکستان کینړلاسو ګوندونو غونډه

د ډیورنــډ لیکــه د کشـمیر د مسئلې پـه شـان د انګلیـس د نیـواک ناولـي میـراث دي چې تر اوسـه پورې یـې د دښمنۍ تخم پاتـي دي. زمـوږ خلک او تاریـخ پرته له شـکه د ډیورنـډ تـړون چې د هیوادپلورونکـي امیر له خوا لاسـلیک شـو، یو ملي خیانت شـمیري. خو په ورته وخت کې باېد ومنو چې د خیبر پښـتونخوا او بلوچسـتان خلکو برخلیک چې نسبتاً د ښــه اقتصادي او ټولنیز حالت څخه برښـمند دي، باید د یوې آزادې او عادلانه ټولپوښـتنې له لارې وټاکل شــي. دغه امر په طبیعی ډول هغه وخــت د پلې کیدو وړ دی چې په دواړو هیوادونو کی خپلواک او ولســي دولتونه واکمن وي. د پاکستان په وړاندي د سردار داود، نجیب او نن ورځنې یو شمیر نورو غړمبا هیڅکله د افغانستان ملی ګټو څخه د دفاع په معنی نه ده، بلکه خپل سری او د خلکو ضد دولتونو تل دا هڅه کړې چې د ډیورنډ کربښـې په پلمه کولو د خلکو له ملی احساساتو څخه ناوړه ګټـه پورتـه او عامه ذهنونه د هیواد د ناوړه شـرایطو څخه واړوي او په دغــه توګه خپلې زورواکۍ تــه ادامه ورکړي. او د بلي خوا څخه یو موټي وطني بیلتون‌غوښتونکې د ډیورنډ لیکه حل شوي ګڼي، نه د ولسونو د

حقوقو له نظره بلکه د توکمپالنې له لید څخه چې هیڅکله د دغو سیمو پښتنو په یو ځای کیدو سره د افغانستان د پښتنو د فیصدی لوړه نشي.
یو شمیر زموږ د خلکو په وړاندي د پاکستان دغه چال چلند او لاسوهنې د ډیورنډ په دغه لیکه کی ګوري. خو دغه فکر په پوره توګه تیروتنه ده. د پاکستان دولت د امریکا او انګلیس په مرسته فعال دی او د څو لسیزو راپه دیخوا په سیمه کی د هغوي ترهګرروزونکو پروژو پلې کونکی دي. دغه هیواد عملآ په کراتو اعلان کړی چې د ډیورانډ قضیه پایي ته رسیدلې ګڼي او امریکا هم څه موده مخکې اعلان وکړ چې دغه پوله په رسمیت پیژنی. که څه هم دا چې د افغانستان دولت دغه لیکه په رسمیت وپیژنی، دغه کار په روانو چارو هیڅ اغیزه نلری او په افغانستان کی دهغه هیواد زورواکو واکدارانو او په ځانګړی توګه د پوځیانو خونړی لاسوهنې ظلم به ادامه ومومې.
که د افغانستان او پاکستان تر منځ جګړه پیل شی، د هغې مالی او ځاني ضربه به یواځی دواړو هیوادونو بیوزله خلک او په ځانګړی توګه د افغانستان خلک وزغمی او بس! په دغه جګړه کې که د پولی دیخوا ګل‌محمد لغمانی په شهادت رسیده، په هغه خوا کې هم یو بل ګل‌محمد وژل کیږي نه د راحیل شریف ځوی او نه د سی‌آی‌ای کوم لوی غړی. که چیرې پوله تړل کیږي، د بیوزلو افغانانو ناروغان به ژوند د لاسه ورکړی نه د ع او غ او نه د نورو لوړ پوړو چارواکو زامن چې په خپلو ماښیو کی په امریکا، هند، دوبۍ او نورو پرمختللو هیوادونو کی ژوند کوی. خلک به د یو من وړو پیرلو وړتیا ونلری نه هغه ارګ ناستي چې هر وخت کلچې خوری. د شمالی انګور، غزنی منې، بامیانو پټاټې، کندز خټکي، غوربند خوبانې، او د کندهار او فراه انار به خوسا شي چې بزګرانو د خپلو حاصلاتو د خرڅلاو په تمه پوره یو کال خولی توي کړی دی تر څو خپل پوروونه خلاص کړی او تر راتلونکې کاله پوری ژوندی پاتي شي.
دغه دنده د دواړو هیوادونو ولسې ځواکونو او مخکښو کسانو په غاړه ده چې خپلو خلکو ته پوهاوي ورکړي چې د واکمنانو د دوکې په ډک جال کې چې کوښښ کوی د خلکو د ملي احساساتو څخه ناوړ ګټه واخلي او خپل رذالتونه پټ کړی، راګیر نشي. خلک باید ددغه ډول لوبو پټ رازونه درک او د هغې په اړوند فکر وکړی. هتلر به ویل «د دولتونو



د پاکستان «لال» او د افغانستان «مورچه‌ها» موسیقي پرمختللو ډلو د «افغانستان همبستګۍ ګوند» په یوه فرهنګي برنامه کی چی د ۲۰۱۳ کال د جون په میاشت کی ترسره شوه ګډون وکړ او ګډون‌والو د داکتر تیمور رحمان، مهوش وقار او مسعود حسن‌زاده له نیوکو ډکو سندرو څخه خوند واخیست. د افغانستان او پاکستان عدالت‌غوښتونکو هنرمندانو ګډ پروګرام له یو خاطرو ډک ماښامي کی دغه انګیزه په انسان کی پیاوړی کوله که چیری د دواړو هیوادونو پرمختللی او آزادی‌غوښتونکی عناصر د خلکو ضد او ارتجاعی او خوسا دولتونو پر وړاندی ودریږي، پرته له شکه په سیمه کی د اوضاع په بدلون او د بنسټپالۍ له ناپوهۍ او نیواک څخه د هغې په خلاصون کی ستره ونډه اخیستلی شي.

لپاره د دی څخه پورته بله نیکمرغي نشته چی خلک یی فکر ونکړی.» نو دغه «نیکمرغي» باید په فکر کول او د ریښتیا په درکولو سره د ولس غولونکو او لوټمارانو واکمنانو څخه لري کړو.

هر ډول جګړه چی د ملي ضد، لاسپوڅي او بهرني نوکر دولت تر مشرۍ لاندي وی، ملي جګړه نه بلکه د دواړ هیوادونو د فاسدو واکمنانو او د خپل امریکایي اونګریزي خاوندانو په چوپړ کې جګړه ده. د دواړو هیوادونو عام وګړي باید د یو بل سره د یوځایوالي او خواخوږۍ سره د خپلو خاینو دولتونو پر وړاندي راپاخیږي او پری نږدي چی زامن یی د هغوي د کرغیړنو غوښتنو قربانیان شي. هغه څه چی په تورخم کې په څو ورځو کې پیښ شو، د دی لامل شو چی یو شمیر کورنۍ خپل ډوډۍ راوړونکې د لاسه ورکړی او د ویر په تغرکښیني چی څوک به یي پوښتنه هم ونکړی، خو یو شمیر معامله‌ګرو ته یې لاره برابره کړه چې د خپلو ساتونکو د لښکره سره تورخم ته ولاړ شی یادګاری انځورونه واخلي او په دغه توګه خپل ځانونه ملي او پر هیواد مین عناصر وښايي! خو د خندا وړ دا ده چې د یوي خوا د هیواد او خاوری دفاع باتې کوي خو د بلی خوا د امریکا څخه ګیله لری چی ولی د افغانستان د ځمکني تمامیت څخه یي د پاکستان په وړاندې دفاع ونکړه!

د افغانستان ولس یواځې هغه وخت د پاکستان او آی‌ایس‌آی خونړي لاسونه پري کولای شی چی د لاسپوڅو مانۍ د چی په څوکیو پرته دی، ړنګې کړي نه په دا رانګه جګړو کی چی ولس ته هیڅ ګټه ونلری. په دی

جګړه هیڅ هیواد ګټونکی او بایلونکی نشته. د جګړې ګټونکی خاین واکداران او د جګړې بایلونکی د دواړو هیوادونو بې وزله خلک دي.

د افغانستان خلک یوازي هغه وخت کولی شي چې د پاکستان ترهګر روزونکی دولت او پوځیانو د هغه ټولو خیانتونو غچ واخلي چې لومړی د کورنیو خاینانو او د هغه هیوادنو چوپړانو سره حساب یو طرفه کړي او زموږ په هیواد کې نسبتآ ملي او دموکراتیک دولت په کار راشي، تر هغه وخته، هیڅ یوه جګړه له پاکستان او یا بل هیواد سره زموږ د ولس په ګټه نده دا خو لا پرېږده چې په دغو خرابو تجهیزاتو او اوسنۍ بې‌ځواکه اردو سره له یو هستي وسله باندي سمبال هیواد سره جګړه ټوکی ټکالی دي.




**په ایران کی د واکمنو قصابانو له لوری په یوه میاشت کی ۹۴ اعدامونه**

په ایران کی یوازی په تیره یوه میاشت کی د «ولایت فقیه» قصابانو په لاس ۹۴ اعدامه د بشر حقوق سازمانونو له لوری ثبت شوی چی د هغه هیواد رسنیو او قضاییه قوی یوازی ۴۲ فقرې یی اعلان کړی دی.

کارتونیست: KIANOUSH



گزارشونه

# په پکتیا کې د امریکایي پوځیانو جنګي جنایت او د ارګ او رسنیو چوپتیا



د هغو مالوماتو پربنسټ چې زمونږ لاس ته رارسیدلي، د ۱۳۹۵ کال د زمرې په ۲۲مه د امریکایي پوځیانو په هوایي برید کې د پکتیا ولایت خوشامن ولسوالي په میناري کلي کې له ۲۰ تنو ځخه زیات ملکي وګړي په شهادت ورسیدل. ډاکټر وریښمین د کورنۍ څو تنو سره چې ښځې او ماشومان هم پکې شامل دي، ددې جنایت له قربانیانو ځخه دي. د شهیدانو انځورونه چې د فیسبوک له ویب پاڼو ځخه خپاره شوي دي، د ډاکټر وریښمین له دوه ځامنو، یو لور او د تره ځوی په وینو لت‌پت جسدونه لیدل کیږي .

ځینو سرچینو له سیمې ځخه چې نه غواړي نوم یې واخیستل شي، ویلي چې دغه پیښه د والي او د پکتیا پوځي چارواکو له خبرتیا پرته په کابل کې د امریکا هوایي ډګر ځخه کنټرولیده او ظاهراً یې د یو کور د نابودولو موخه لرله چې اټکل کیده د طالبانو قومندانان پکې را ټول شوي دي. امریکایي پوځیانو په پرلپسې بریدونو سره څو نور د اوسیدو کورنه چې ددې کور په شاوخوا کې وو خپل هدف ګرځوي او ملکي وګړي ستر زیانونه ویني. الیاس وحدت د پکتیا والي ددغه برید په لړ کې په کابل کې وو او د ارګ او امریکایانو په آمر د رسنیو سره د خبرو لپاره

حاضر نشو. د ارګ رسنیو دفتر او د ع او غ حکومت نور امنیتي چارواکي د خپل نظر لاندې رسنیو نه غوښتنه کړې تر څو دا پېښه پټه کړي.

ځینې سایټونو د پکتیا امنیه قوماندان خلیل ضیا له خولې لیکلي دي چې هغه د ناټو هوایي برید تایید کړی. ددې ترڅنګ ګلاجان په دې کلي کې د قومي مشرانو څخه تو تن د عامو وګړو په وژل کیدلو یې خپله کرکه څرګنده کړې ده.

د افغانستان عمده رسنۍ د ع او غ بې‌ارزښته او ملي ضد اوتي- بوتي په پوره شور او ځوږ خپروي، پرلپسې په هغه او دغه ولایت کې «د لسګونو طالبانو او داعشیانو وژل کیدو» درواغ خبرونه خپروي، خو د خپلو امریکایي تمویل کونکو له دغه زړه‌بوږنونکي جنایت څخه سترګې پټوي.

د هیواد رسنیو له لورې د خبرونو سانسور له امله، د امریکایي اوناټو پوځیانو جنګي جنایت په افغانستان انعکاس نه مومي او په ډیرو پیښو کې د عام‌وګړو وژنه د «د طالبانو وژل کیدو» تر نامه لاندې پټوي. ۱۳۹۵ کال د وري په ۲۱مه، په ولسي جرګه کې د پکتیا یو تن استازي نیوکه لرله چې د امریکایانو بې‌پیلوټه الوتکې د وري په ۱۸مه په ګومل ولسوالۍ کې ۱۷ تنه عام وګړي وژلي دي او دولت باید ددې پیښې په اړه څیړنې وکړي خو امریکایانو دعوی وکړه چې ټول وژل شوي طالبان وو. ددې پیښې په تړاو، حاجي حسین خان، چې قومي مشر او ددې پیښې عیني شاهد وو د فرانسې خبري اژانس ته وویل چې وژل شوي عام او ملکي وګړي ول او شایسته خان، د ګومل ولسوال هم دغه ټول‌وژنه تائید کړه. جنرال چارلز کلاولاند، په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو ویاند ژمنه وکړه چې ددې پیښې په اړه به پوره څیړنې وکړي خو د څو میاشتو په تیریدو سره ددې څیړونو پایله په لاس نده راغلې او دا جنایت هم د خاورو لاندې پټ پاتې شو.

د افغانستان د خرڅولو لاسوند پر بنسټ چې د «ملي ځناورتوب دولت» د خپل کار په دوهمه ورځ کې له امریکا سره لاسلیک کړ، امریکایي پوځیان زموږ هیواد کې د قضایي‌خوندیتوب څخه برخمن دي او څوک نشي کولای چې هغوی و پوښتي. تر څو چې زموږ ولس د بهرنیو نیواکګرو او کورنیو چوپړانو پر وړاندې نه وي راپاڅیدلی، دا جنایتونه او روز زیاتي به دوام ولري.

پښتو ۷مه ګڼه، چنګاښ ۱۳۹۵ - جولای ۲۰۱۶



لیکونکی: هیله نوری

# عبدالله د ولس د وینو په بیه ځو زره ډالري جامې اغوندي



د فلم د هلکانو په څېر ښایسته جامو اغوستل او د عبدالله ډېلي پیسی لګول هرکله د خلکو او تلوېزیو شبکو د خبرو اترو موضوع او له هغه څخه د ولس ژورې کړکې یو لامل دي. خو کیداي شي لږ شمیر خلک په دغه چارو وپوهیږي چې هغه د عربي او هالیودي میلیونرانو په ډول د نړۍ د ډېر قیمتي هټۍګانو پیریدونکو څخه دي.

په دې ورستیو کې د «اطلاعات روز» ورځپاڼې په دغه اړوند اعتباری راپور خپرو کړ او بربنډه یې کړه چې د عبدالله نوم د نړۍ په خورا ګرانې هټۍ کی د همیشني پیردونکي په ډول د سرو زرو په اوبو حک شوي دي. سربیره پردې، دغه مسلهٔ د اسپانوي ژبي سایت له خوا notiver.com.mx او په کانادا د میشتو تاجکیانو ټولنه هم هم خپره شوي ده.

د ګزارشونه «اطلاعات روز» په راپور کې لولو:

«هاوس‌آف بیژن [بیژن کور] د خپلو پیژندل شو پیردونکو په ویاړ سره د هغوی نومونه د هټۍ په بهرنی ښیښه د سرو زرو

په اوبو باندي حک کړیی دي. هغه نومونه چي د هاوس آف بیژن پر ښیښه، د "سلام د اوسنی زمان شخه پورته واکمنانو پر سینګار او ډول باندي" تر نامه لاندی حک شوي دي دا دي: الولید بن طلال بن عبدالعزیز شاهي کورني غړی او د عربستان میلیونر؛ جورج دبلیو بوش د امریکا مخکیني ولسمشر؛ بارک اوباما د امریکا ولسمشر؛ ولادیمیر پوتین د روسیه ولسمشر؛ تونی بلر د انګلستان پخوانی لومړی وزیر؛ جان کری د امریکا د بهرنیو چارو وزیر؛ خوان کارلوس د اسپانیا پاچاه او ډاکټر عبدالله، د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت پخواني وزیر.»




د هټي په بهرني ښیښه کي د سرو زرو په اوبو د عبدالله حک شوي نوم «د بیژن کور»
(د «اطلاعات روز» ورځپاڼي: شخه انځور)



د هټي په خنډ کی بیژن پاکزاد خپل انځورنه د خپلو همیشنی پیردونکو سره په نندارہ کي ایښودي دي.(«د اطلاعات روز» ورځپاڼي: شخه انځور)

د « بیژن کور» (House of Bijan) د نری ډیره ګرانه هټی ده چي د امریکا د لاس انجلس په بورلی هتلر سیمه کي شتون لری او د هغي خاوند یو په خته ایرانی امریکایي ډیزاینونکي بیژن پاکزاد دی. دغه سړی چي «ستر سړی د هغه د اغوستلو شو جامو له مخی کولي شو چي وپیژنو» په لید لوري سره یی د سړو جامي په ځانګړي توګه دریشي ډیزاین کولي، په ۱۳۹۰ کال کي مړ شو. آزاد اندي ایرانیان د بیژن شخه د پانګوالی د کرغیړني خیري په ډول یادونه کوي. هغه او د هغي د سوداګری پر

مخ وړونکو تل کوښښ کړی دی چې ورزشي او سینمایي ستور لپاره د ډیزاینولو ترڅنګ، د نړۍ اوروپکو سیاستمدارنو جنایاتونه په څو زره ډالري دریشیانو باندي وپوښي. دغه هڅې د ټولو پرمخ پرانیستي نه ده او باید له مخکې د لیدو وخت واخلي او هغوي چې هڅې ته راتللي نشي، بیژن به د هغوي خواته ته او د یو پیریدونکی لپاره جوړ شوي ډیزاین به هیڅکله د دوهم ځل لپاره بل پیریدونکې په واک کی نه ورکول کیده. د بیژن په وینا، د ډیزاین شویو دریشیانو بیه ۲۵ زره ډالرو ته او نکتایي ۱۲۰۰ ډالرو ته رسیږي و ادعا کوي چې زموږ همیشني پیرودونکې د هغي د هڅې څخه لیدنه کوی او هرځل په منځنۍ توګه تر ۵۰۰ زره ډالرو پیریدنه کوي.

په داسي هیواد کی چې میندي د خپلو نورو ماشومانو ژوندي پاتي کیدلو لپاره، دي ته اړ کیږي چې د خپل زړه ټوټې وپلوري، ګورو چې د کرزی ورور او فهیم د «کابل بانک» څخه په غلا شوي پیسو باندي د دبی په خرما ټاپوګانو کی ماڼۍ اخلي چې د هري ماڼۍ بیه د ۱.۵ څخه تر ۱۰ میلیونه ډالرو پوري رسیږي؛ او د زورواکو لسګونه نورې ښکار او پټې شتمنې. عبدالله چې هر خومره هڅه وکړي چې خپل ظاهر په خپلو مفتو دریشیانو باندي پټ کړي خو بیا هم په حقیقت کې بربنډ پاتي کیږي او لویدیځې رسنۍ ورته لقب. «مرګ راوړونکي» ور ډالۍ کړی دی



عبدالله د ولس د وینو په بیه څو زره ډالري جامې اغوندید ارګ په پاڼه کې فیسبوک، «د ۹۰ سلنه چارواکو د شتمنیو ثبت» د «اصلاحاتو» او د فساد پر وړاندې مبارزې په توګه برجسته کړی. لومړی خو عبدالله په دروغو سره خپله ټوله شتمني ۱۶۰۰۰۰ډالرو په ارزښت ښودلي ده، دویم او تر هر څه څخه اړینه یواځې د شتمنیو ثبت چې د لوټ له لاري څخه لاس ته راغلي دي کوم درد نه دوا کوي، د ولس اصلي غوښته دغه ده چې عبدالله او هم اندي یې دغي سوال ته ځواب ورکړي چې د «جهاد» په وخت کې یې د خوړلو د پاره ډوډۍ او یو ګوډ خر هم نه درلوده، خو په یو ځل یی څرنګه دغه قاروني پانګې ترلاسه کړې.

د عبدالله تورنولو ته اړینه نه ده بې شمیره جنایتونو او کرغېړنتوبونو بیلګې یې وشمارو، یوازې د هغه نوم د نړۍ په خورا ګرانو هېګانو کې د لویو شتمنانو په لیکه کې راتتل بسنه کوي چې هغه د ملي ضد عنصر پـه ډول لـري او محاکمـه کـړو. او که چیر یې لږ څه هـم ملي حس په درلودلي، شـرم او حیا به یې مخکې کړی وي چې د نړۍ په ډېر غریب او بیوزله هیواد کې د«رئیس اجراییه» په ځای کې، لسـګونه زره سیلي راوړي او لوټ شوي ډالر په دغه ډول حیف او میل کوي.




# د اچین په ولسوالۍ کې د امریکا جنګي جنایات

د ۱۳۹۵ کال د تلـې پـه ۷ نېټـه (۲۰۱۶ د سـپتامبر په ۲۸) د ننګرهـار ولایت اچین ولسـوالۍ د شـدل کلي خلک د حاجی احمد شـاه څخه چې د حج له مراسـمو څخه راسـتنیدو د هرکلـي لپاره راټول شـوی وو. خلـک د دیګ په پخولـو او او میلمنو ته د ډوډۍ پـه چمتـو کولـو بوخت وو چې دوه جیټ اولوتکې او یـو امریکایی بې پیلوټه الوتکـې پـه بمبـار باندی پیل کوی چې په پایله کې یی ۱۴ تنـه وژل کیری او ۱۶ نور ټپیـان کیری. د افغانسـتان ډیری رسـانی پـه معمول ډول د امریـکا دغه جنایت په وړاندی سترګې پټوی او ډیر لږ رسنۍ هغه خپروی.

«د افغانسـتان همبسـتګې ګوند» استازی د ټپانو پوښتې لپاره د ننګرهار صحت عامې روغتون ته تللی وو. په دغه لیدنه کې د کلی مشـرانو حاجی احمدشـاه او ملک عبدالحکیم د دغی پیښی په اړه داسی وویل:

«قیامت وو. داسی می احساس کاوه چې قیامت پیل شوی، هری خواته مړی او ټپیان پراته وو.... | **پاتې برخه: ۳۳ مخ**



لیکونکی: توفان

# د امریکا د بي پیلوټه الوتکو پخوانیو کارکونکو بربنډونه او بخښنه غوښتل



د بـي پيلوټـه اولوتكـو بريدونـه په افغانسـتان كې د امريـكا د تـورو كړنلارو څخـه دي چې د ۲۰۰۱ كال څخـه تـر اوسه پورې ادامه لري او د «ترهګـرۍ پر وړاندې مبارزې» د نوم لاندې، د زرګونو ټنو ويرونكو او وژونكو توكو درلودونكې بمونو په اچولو، په ځانګړې توګه د افغانستان كلي يې د ويجاړې په لور راښـكلي دي. د «څېړنيـزې ليكوالـۍ ادارې» د موندل شـويو له نظره ۲۰۰۸ څخه تر۲۰۱۲ كلونو په منځ كې، زموږ هيواد د ۱۰۰۰ ځلي څخه ډېـر د دغـه ډول بريدونو لاندې نيول شـوي دي. يوازې په ۲۰۱۵ كال كې، ۴۱۱ په شاوخوا كې بريدونه ترسره شوي چې دهغې له امله ۱۴۴۱ تنه چې په هغې كې ماشـومان هم ګډون لري، وژل شـوي دي. د دغې ادارې وروسـتي څېړنې ۲۰۱۶ كال څخه هم ښـكاره كوي چې تر اوسه پورې ۱۷۸ بريدونه ترسـره شـوي چې دهغې په پايلـه كې د ۶۰۰ څخه پورته وژل شوي دي.

بـې پيلوټـه الوتكې له ډېر لـرې واټن څخه د كريـچ هوايي ځواكونو هډې څخه چې د امريكا په نيوادا ايالت كې ده لارښونه اخلي. امريكا په

درغلي او غولولو ددغو بریدونو موخه «د ترهګرۍ د هډو له منځه وړل» بولـي، خو د عام وګړو مړګ ژوبله او د الوتکو پخوانیو پیلوټانو بربنډونې دا جوتوي چې د قربانیانو ۹۰ سلنه په شاوخوا کې، عام او بیګناه وګړي وه. دغو بریدونو نه یوازي د ترهګرۍ مخه نه ده نیوله کړي بلکه چې ورځ تر بلې د امریکا جوړ شوي تروریستي باندونو ډیریدلو شاهدان یو.



بي پیلوټه الوتکې د ډیري لرې واټن څخه د کریچ هوایي ځواکونو هډې څخه چې د امریکا په نیوادای ایالت کې ده لارښونه اخلي.

څـه مـوده وړاندې د امریکا د بي پیلوټه الوتکـو د کړنلاري څلورتنو کارکونکو چې د غیر نظامیانو وژل ورته ضمیر نارامه کړی وه، د رسنیو لـه لارې د هغـو جنایتونو په بربنډولو لاس پورې کړ چې د خپلې دندې پـه لـړه کـې د هغې ګواهـان وو. لاندې پـه لنډ ډول دهغـوي په اړوند معلومات وړاندې کوم:



براندون بریانت (Brandon Bryant)

براندون بریانت، ۲۰۰۶ کال څخه تر ۲۰۱۱ کاله پورې د پنتاګون د بي پیلوټه الوتکـو کنټرولر پـه توګه دنده کړې او په افغانســتان، پاکستان، ســومالیا او یمن کـې د یو شــمیر بریدونو مشــري یې په غـاړه لرله چې وروســته یې خپلې دندې څخه ګوښه شو او د بې ګناه خلکو وژلو څخـه پښـیماني ځرګنده او بخښــنه یې وغوښــتله. هغه وایې چـې د دغه الوتکو

کنټرولونکو د هغوي د موخو په اړوند پوره لید نه درلود او ډاډمن نه وه چې کوم کسان د برید لاندي نیسي:

«موږ یوازي د انسانانو سیوریي لیدل او هغه سیوریي مو په نښه کول. د امریکا د فوځ د بمبارونو ټولی کړنلاري ناروغه او شلېږي شوتې وي او خلک باید د دغه څیزونو او بلاګانو څخه چې د قربانیانو په سر باندي راغلي دي، خبر شي. زه ډیر خواشیني یم چې دغه تیروتنه ترسره شوی او هر کار چې وکولي یي شم کوم یي تر څو د راتلونکو تیروتنو مخه ونیسم.»

براندون په یوی مرکه کې د بی پیلوټه الوتکې د توغندیو په وسیله د یو ماشوم د نښه کیدلو څخه شاهدي ورکوی. هغه وایي، د دندي په لړ کې چې مې څه وخت دغه موضوع د عملیاتو څارونکي سره شریکوله، ځواب می تر لاسه کاوه چې «د څیرنو پر بنسټ، هغه یو سپي وء»، براندون هغه انځور بیا بیاځلې ګوري او وایي چې ډاډمن دي چې سپي نه بلکه یو ماشوم وه. («دیلی تلګراف»، ۲۴ اکتبر ۲۰۱۳)


سیان وستمورلند
(Cian Westmoreland)

سیان وستمورلند (Cian Westmo-reland) په ۱۸ کلنې کې د امریکا هوایی ځواکونو په چوپړ کې وګومارل شو. هغه د تخنیکر په توګه، هغه بی پیلوټه الوتکود اړیکو د کړنلارو جوړولو مسئول وء، خو په ۲۰۱۰ کال کې یي خپله دنده پریښوده او په نظامي برخو کې د امریکا سیاست په بربنډولو لاس پوری کړ. سیان د خپلې دندي په لړ خپله تجربه داسی څرګندوی:

«په قندهار کې د دندي لومړي ورځ مي حیرانونکې وه. زه د خپلې کیرګدي څخه وړی کوټې په لور چې هلته مي دفتر و تللم چې رئیس مې په هغه ځاي کې وه او خندل یی. هغه مخ موږ ته کړ او ویویل: "اوس موږ بد سړي وژنو، هلکانو!"» (شبکه «الجزیره»، ۱۳ اپریل ۲۰۱۶)

سیان د دندي څخه د راګرځید وروسته، په رواني ستونزو اخته شو او خپسه ویني:

«خپسې هر هغه ځېزونه لرل چې ما نشو درک کولي. ما د کلیو د بمباورولو په چارو کې خپسه لیدله، د بمبار کولو په چارو کې، د ماشومانو وژل او د هغوي د ژغورلو لپاره هڅه.» (شبکه «الجزیره»، ۱۳ اپریل ۲۰۱۶)


استیفن لوئیس (Stephen Lewis)

استیفن لوئیس (Stephen Lewis) د ۲۰۰۵ کال څخه تر ۲۰۱۰ کال پورې، د امریکا د هوایي ځواکونو د ځانګړي بریدونو د دریمې ځانګې سره دنده ترسره کوله. هغه د دې په اړوند چې څه ډول یې خپله دنده پرېښودله د «نوې ډموکراسۍ» سره په مرکه کې وویل:

«د ۲۰۰۹ کال په ورستیو کې موږ ته وویل شو چې دغه ځانګړي شوي ځای ته ولاړ شو. څلور تنه په غره کې د ګام اخیستلو په حال کې وه. او ما هیڅ وسله نه لیدله. ما هیڅ شي نه لیدله. د ۵ دقیقو په تیریدو، دوه هلفایر (د توغندیو یو ډول) ولګیدل او درې کسان یې ووژل. یو کس ټپي پاتې وه. موږ ته اجازه راکړې شوه چې توغندي وتوغو. او هغه سړی... هغه نور هلته نه وه.

...له دې څخه لږ وروسته، مې خپل مشرتابه ته قانع کونکي لیک ولیکه او هغه ته مې وویل چې زه په دې ځای پورې اړه نلرم، زه نور نه غواړم چې دغه کار ترسره کړم. او زه د ګوښه کیدو غوښتونکي یم.» («دموکراسی نو»، ۲۰ نوامبر ۲۰۱۵)

مایکل هاس (Michael Haas) د ۲۰۰۵ کال څخه تر ۲۰۱۱ کاله پورې، بې پیلوټه الوتکو د مهال‌ځار په توګه دنده ترسره کوله. هغه همدارنګه د هلفایر توغندیو د نښې ویشتلو لارښوونکي مسئول وه. هاس وایي په بریدونو کې د ماشومانو او نورو غیر نظامیانو مرګ ژوبلې، د بې پیلوټه الوتکو د ډیرو مهال‌ځارو په واسطه پوښل کیږي. هغه همدارنګه وایي چې


مایکل هاس (Michael Haas)

د بی پیلوټه الوتکو د بریدونو په لړ کې په پراخه کچه له الکول او مخدره توکو څخه ګټه اخیستل کیدله او دغه د دندي د ګډوډی لامل کیده.
(«دی انترسپت»، ۲۰ نوامبر ۲۰۱۵)

د بی پیلوټه الوتکو څلور تنه مهالخاري چې پورته په لنډ ډول در وپیژندل شو، همدارنګه بارک اوباما ته د لیک په لیږدولو سره، د امریکا ولسمشر ته ګواښ ګړی چې «په نښه شوي وژنو کړنلاره» په ټوله نړۍ کې د ترهګرۍ او نه ټیکاو اصلی لامل دي. ددی ترخنګ د امریکایی چارواکو له خوا د دغه بریدونو ویجاړونکو نښانو پټو ساتلو په اړه ګواښ ورګړی:


۲۰۱۶ په اپریل کې: ۱۷ تنه افغان ګډوال چې د امریکا د بی پیلوټه الوتکو په بمبار کې د پاکستان په پوله کې ووژل شول.

«موږ د هوایی ځواکونو د خدماتو پخوانی غړي یو. موږ هوایی ځواکونو سره یوځاي شو تر څو د امریکایانو د ځانو او اساسی قانون څخه ساتنه وکړو. موږ دي پوهاوي ته ورسیدلو چې بی ګناه غیرنظامیان مو چې وژلي دي، یوازي د کرکجنو احساساتو د راپاریدلو لامل شوي چي د داعش په څیر ترهګرې ډلي ځواکمنې ساتي...

کله چې زموږ ګناه د پردیو ژوند په سیستماتیک ډول د لمنځه وړلو په اسانولو کې د حد څخه زیاته شو، موږ ټول له پیښې وروسته په عصبی فشار باندی اخته شو...

موږ د ډیرو بی‌ځایه لګښت، ناسم مدیریت، د واکمني څخه ناوړه ګټه او عوامو ته د بی پیلوټه الوتکو د کړنلاري د اغیزونو په اړوند زموږ د هیواد د مشرانو دروغ ویلو شاهدان وه. مونږ نشو کولای چې چُپتیا غوره کړو او د پاریس بریدونو په څیر د ناروینونو ننداریچان اوسو. سره له دی چې د بی پیلوټه الوتکو د ویجاړونکو کړنلارو اغیزو د خپلي خاوري په دننه او بهر کې پوهیږو، دغه ډول غلي پاتي کیدل د خپل هوډ د ماتولو لامل کیږی چې د اساسی

قانون د دفاع لپاره مو خوړلي دي.

له تاسو څخه غوښتنه کوم چې زموږ لیدلوري په نظر کې ونیسي، که څه هم چې زموږ غوښتني د چلسی منینګ، جولیان آسانژ و ادوارد اسنودن په سترو بربنډونکو د بی‌ساری ځارني ته په کتلو چې مخکې له موږ څخه وه بیځایه وي. د دغه هیواد لپاره، دغه ډول هیله مند یو چې داسی نه اوسی.»




د یمن په دیوالونو باندي شعارونه:
ولي مو زما کورنۍ ووژله؟!

د «بی پیلوټه: دامریکا بی پیلوټه جنګي الوتکې» (Unmanned: America's Drone Wars) مستند په نوم چې په ورستیو کې جوړشوي دي هم د بی پیلوټه الوتکو د بریدونو د اغیزونو په ملکی خلکو باندي خیري. دغه مستند کولی شي چې لاندي وګورئ: youtube.com/watch?v=mpzk7OdbjBw

---

**د اچین په ولسوالي کې د امریکا جنګی جنایات | دوام...**

...له یوې کورنۍ څخه ۵تنه د کورنۍ د پلار په ګډون، دو ځامن او او دو وریرونه ووژل شول. تر اوسه مونږ ته د وژل شوو کره شمیر معلوم ندی چې ۱۴ تنه وژل شوی او یا ډیر ځکه مړی نه معلومیدل. مونږ غوښی په ځادرونو کې راغونډې کړی.»

ملک عبدالحکیم ادامه ورکړه:

«دوی پر مونږ تور لګوی چې مونږ داعش یو. مونږ خپله د داعش قربانیان یو. ژوند پر مونږ حرام شوی دی. خپلو ځمکو ته نشو تللی، خپل حاصلات راټولولی نه شو او دخپل کلي څخه بشار ته تللی نه شو ځکه چې پولیس او اردو مونږ په لاره کې زوروی. مونږ له داعش څخه کرکه لرو. خپله دولت له داعش څخه ملاتړ کوی. په خوګیانو کې د شپي له خوا دولتی چورلکی داعش ځاي په ځای کوی او هغوی ته خواړه او وسله ورکوی خو په وړاندی یی مونږ وژل کیږو.»

د دغې پیښې ټپیانو او د کورنۍ غړیو وویل داخلی هغوي آرامه نه کښینی ځکه دا څوم ځل دی چې امریکا مونږ د مخالفینو په نوم وژني او وروسته په یوې بخښني غوښتنی سره ټول شیان حل شوی فکر کوی.

د ټپیانو په منځ کی یو تن زاهدالله وو چې د تلاشی په څلور لاره کې یې د موبایل کارتونه خرڅول. هغه وایي: «په ورځ کی د ۱۰۰ افغانیو څخه تر ۱۵۰ افغانیو پوری پیدا کوم. په دغه ورځ کې د کلي ټول خلک راټول شوی وو ځکه چې حاجی راغلی وو او ډوډۍ یی ورکوله زه هم لاړم.... | **پاتی برخه: ۵۵ مخ**



لیکونکی: مریم مروه

# «د ګلبدین توغندویو زما دري ورونه شهیدان کړل»



د کابل په شپږ میلیوني ښار کې داسې زرګونه کورنۍ شته چې د غریبۍ او بې روزګارۍ او د امنیت نه شتون له امله، د بیوزلۍ او ربړونې ډک ژوند پر مخ بیایي.

د کابل د کارته نو په سیمه کې لسګونه کورنۍ په تورو ورځو او مطلقي بیوزلي او د مات شوي او خویدلی چتونو لاندي شپې او ورځې تیروي چې د هغو له یو شمیر سره مي لیدنه درلوده.

٣٨ کلنه شکیلا د اووه ماشومانو مور (لیمه ٢٠ کلنه، مژګان ١٨ کلنه، زهره ١۶ کلنه، خدیجه ١۵ کلنه، شکیب ١٢ کلن، شعیب ١٠ کلن، او عبدلله ١ نیم کلن) دی چې هیڅ یو یي ښونځې ته نه ځي. هغه د لس ګونو نورو کورنیو په څیر په ویجاړ شویو کورونو چې خپل یي نه دي د بې وسۍ ژوند لري.

شکیلا د کور یواځینۍ هیله او ډوډۍ راوړونکې ده. هغه له سهار نه تر ماښام پوري کوښښ کوی تر څو د هغه تنور له لاری چې په کور کې یي جوړ کړی دی پیسې وګټي او خپل ماشومان له لوږې وژغوري. د هغې لپاره ډیره ګرانه ده چې په دغه لږ عاید باندي خپلو ماشومانو ته مناسب خواړه، کالي او نورې لومړنۍ اړتیاوي پوره کړي او اړه ده چې د نورو زړو جامو او بوټانو څخه ګټه واخلي.

شکیلا د خپل ۸۵ کلن خاوند شکور لپاره چې ناروغه او ډېر کمزوري دي د درملنې پیسې نلري.
شـکیلا د افغانستان فاسد دولت څخه شکایت لری او په داسې حال کې چه د خپلو لاسـونو تناکي یې راوښـودلې او په آه او خواشـیني سره یې وویل:

«خاوند مي په شـهرک طلایي کې دنده درلوده په میاشـت کې بـه یـي ۹۰۰۰ زره افغاني تنخـوا ورکوله، زما لپاره بـس و. همدا پاچاهان چې مشـران شول هغه یي ګوښـه کړ، اشرف غني چه پر تخت باندي کیناسـت. لـه هغه ورځې چې دوي پـه څوکۍ باندي کیناستل –کاشکی خدای دوی نه وای کینولی- کار او روزګار ورک شو، تر دي چې زما تنور ته یي هم زیان ورساو، پیرې ورکې شوې نور شیان خو لا په خپل ځاي پریږده. باور وکړی چې خپل ماشوم ته می شیدی هم نشم اخیستلي، ځوي می ډېر کمزوری شوه.»




د دغي دردیدلي مور بدمرغۍ، چې خپلـه ټوله ځواني یي سـوځیدونکي تنور تر شـاه تیره کـړي ده، د کابل د کرغیړنو تنظیمی جګړو څخه پیل شـوي ده. هغه د هغو ناورین څخه ډکـو ورځـو چـې خپـل درې تنکي ورونـه (شـریف ۱۵ کلـن، کبیر ۱۲ کلـن او روف ۱۰ کلن) یـې پکې له لاسه ورکړل ترخه یادونه لري:

«دغو مجاهدینو چې توغندی توغول، دغو ګلبدینیانو، توغندی راغی او په بـام ولګید. د ترور لور د واده په شپه کی مي دري ورونه یوځای شهیدان شول. پلارمی، کاکامی، او د ترور انګور می د دوي د لاسه ټپیان شول.»

شـکیلا وایي د کومې ورځې نه چې یــې اوریدلي ګلبدین بیا کابل ته راځـې وینــه یې په خوټیدو راغلي او فکر کوي چې ورونه یې د دویم ځل لپاره شـهیدان کیږی. هغه وایي هیڅکله د خپل ورونو وینه ګلبدین او ګوند ته یې نه بخښي.



انځورونه

# د کابل په واټونو کې د شورای نظار د ځناورتوب انځورونه




۱۳۹۵ کال د وري ۱۸مه: د احمدشاه مسعود د وژلو تلين په ورځ، د کابل ښار د هر کال په څير د هغه د پلويانو او وسلوالو چې له پنجشير او د کابل له شمال څخه راغلي وو له ملنډو ډکې ننداري صحنه وه چې هغوی په کې زور ښودنه وکړه، او په تور- سپين- زرغون رنګ بيرغونو سينګار موټرونو کې د ښار په واټونو کې تګ راتګ کاوه. د هغوی ډيری خلک له ډارونکو څيرو سره چې د کابل اوسيدونکو لسيزې تنظيمي جګړو خپسه يې را ژوندي کوله، له ځانه سره کلاشنکوف او تمانچې او برچې درلودې او هوايي ډزې يې کولې چې د کابل ښاريانو د ډار او ويرې لامل شو. ډيری خلک او په ځانګړی توګه ښځې له کورونو څخه را ونه وتلې او ښار له خلکو تش وو.

د کابل پوليس، ددغو ځناورو ټوپک‌لرونکو پر وړاندې ننداره‌چيان ول او آن تردې چې په واټونو کې ليدل کيدل چې دغو لنډغرو د پوليسو او ملي اردو له ګاډو څخه ګټه پورته کوله.


HAMBASTAGI.ORG


HAMBASTAGI.ORG


HAMBASTAGI.ORG



لیکونکی: توفان

# کیږدۍ ناستې فرښته، د خپلو خیالونو کور انځوروي



د ۱۳۹۵ کال د غويي په ۲۹ نېټه د کابل ښار د حاجي نبی ښارګوټي ته نږدې ديوې کیږدۍ ناستې کورنۍ لیدلو ته لاړو، دغه کورنۍ چې زموږ د زرګونو بې کورو، بې برخو او بې‌وزلو هیوادوالو بیلګه ده، خبرې مو له جان‌آغا، د کورنۍ له پلاره سره پیل کړې. هغه په لومړیو کې چمتو نه وه چې مرکه وکړي:

«ستړی شوم، ډیر ستړی شوم ...د جګړو په وخت کې پاکستان ته کډوال شولو کله چې کرزی راغی بیرته راستانه شو. اوس زمونږ ژوند داسې دي. هیڅ څوک زموږ مرستې ته رانغلل. څو ځلې موسیسو او دولت ژمني وکړي خو هیڅ کار نه دی شوی. اوس هم دغه کارونه ګټه نه لري.»

ویر، خپګان او ناهیلي‌توب د جان‌آغا په سترګو کي په ښکاره ډول ښکاریده. له هغه څخه مو وغوښتل چې د ستونزو په وړاندي تسلیم نشي او خپل غږ پورته کړی. هغه له واکمنانو ډیره کرکه لري او د حل لاره يې د بې کورو او غریبانو په یوځاي کیدو کې وینی او نه له دی فاسد او تپل شوي حکومت څخه.


جان‌آغا او لورګانې یې د کېږدۍ ترڅنګ

د جان‌آغا سره د خبرو پر مهال، سترګی مي په یو ماشومې ولګیدې چې کیږدۍ په څنګ کی ولاړه وه په ځیر ځیر او په موسکا سره یي زموږ لور ته کتل. خواته یي ولاړم او د نوم پوښتنه مي تری وکړه، دومره ورو غږیده چې یوازي د شونډو خوځیدل یې مالومیدل. دوهم ځل لپاره مي تری د نوم پوښتنه وکړه، وویل فرشته یم وروسته یي ځان د خپلې خور تر شا پټ کړ او دواړه سره خندیدلي. د هغوي په څیره کي د خوښیو لیدل زړه راښونکی وه، خو ددغه معصوم ماشومانو د ژوندانه حالت او دا چې غریبي او بدمرغي دوي بربادوي، د انسان روح ته اور لګوي.

دري کلنه فرشته او ۹ کلنه نرګس د جان‌آغا لورګانې دي. دغه دواړه د نورو زرګونو کیږدۍ ناستو ماشومانو په څیر ښوونځي ته نه ځي. جان‌آغا د هغوي ښوونځي ته د نه تلو لامل داسی تشریح کړ:


فرشته او مور یي

«اولادونه مي ښوونځي ته نه ځي، زما له وسه څخه نه ده پوره. مونږ مخکی له دی څخه بل ځای کي وو، دلته راغلو. زمونږ ډیر عمر په کده کولو کی تیریږي او یو ځای نه لرو ترڅو لورګاني مي وکولاي شي چې یو ښوونځي ته ولاړې شي.»

دننه کیږدۍ ته لاړو ترڅو د فرشتې او نرګس له مور سره خبري وکړو. هغه زمونږ په لیدو ډیر خوښه شوه ځکه کلونه کیږي چې د هغو لیدو ته څوک نه دي راغلي او په کیږدۍ کی ژوند ورته لکه په بندخونه

کې بندیتوب بریښي.



د کیږدۍ دننه، هغه ځاي چې فرشته او کورنۍ یې ژوند کوي.

لـه هغې سره په خبرو بوخت وو چې فرشتې په بیړه سره خپل انځورونو کتابچه راوړه او موږ ته یې وښوده. هغې خپله پاڼۍ اړولې، او خپل انځورونو ته یې کتل او وروسته یې زموږ مخ ته په دوامداره توګه کتل چې وګوري کارونه یې زموږ خوښ شوي او که نه. د فرشتې ژوند په رسامیو کې ازانګه موندلې. د کتابچې په ډیرو پاڼو کې یې کیږدۍ انځوره کړي وه، او هغې د خپل ماشومتوب ژوند او خیالونو په هغیې کې بڼه موندلي وه.



فرشته

فرشتې هیڅکله په کور کې د اوسیدو تجربه نه درلودله. لـه کومې ورځې چې نړۍ ته راغلې، خپل ژوند یې په بې‌ساری ساړو او ګرمۍ کې په

کیــږدۍ کی تیر کړي بنــایی همدا ترخه تجربه د دي لامل شــوي چي ډیــر ځلی یي کیــږدۍ انځور کړی او د کور او پټنځــای په فکر کې وي. مشــرې خور یی نرګس هم کتابچه درلودله او رسامي یی کوله. فرشتې او نرګس خپل ټول انځورونه په قلم او پنسل انځور کړي وه. هغو ته مو ژمنه ورکړه چي رنګی او د رسامۍ کتابچې به راوړو، دواړه ډیرې خوښی شولی.



فرشتې د کتابچې په ډیرو پاڼو کی کیږدۍ انځور کړي وې



د فرشتې ژوند په رسامیو کې ازانګه موندلی

فرشــته او نرګس د هغو میلیونونو بااستعداده ماشومانو له ډلي څخه دي چــی بی‌عدالتــۍ او ناتارۍ له هر څه بی برخــی او خپلو خوږو هیلو څخــه لری ســاتلي. باید مبارزه کولو ته باورمند شــو او دی پوهاوی ته ورســیږو چی لاســپوڅي او د خلکو ضد دولتونه د یو هیواد د اقتصاد د پرمختــګ لــوی خنــډ او د خلکو د بدی ورځي لامــل دي تر هغه وخته چی ولس‌واکه دولت منځ ته را نشــي او هیواد د پردیو په لاس کی وی، طبقاتی درزونه به نور هم پراخه شي.




لیکونکی: احمر

# داماني دورې دپرمختګونو په اړه ديوې لويديځې ورځپاڼې شننه




په داسې حال کې چې په کراتو ويل کيږي، چې افغانستان يوازې او يوازې دنړيوالې ټولنې په مرسته او دامريکا دشتون په صورت کې ممکن پرمختګ او ترقي وکړي خوبرعکس دتيرو سلو کلونو واقعيتونه داخبره تايدوي چې کله زموږ هيواد په خپلواکه توګه دپرمختګ لار خپله کړې، ډير پرمختګونه يې ترلاسه کړي دي خو بهرنيو لاسوهنو بيا هيواد دويجاړۍ لور ته رهبري کړی دی.

دافغانستان خلک تر څو پورې، چې ديوملي اوډيموکراتيک ځواک تررهبرۍ لاندې دبهرنيو نيواکګرو او کورنيو خاينانو څخه ځانونه خلاص نه کړي، داوسني فاسد او پردی‌پال تپل شوی نظام په چوکاټ کې اقتصادي خودکفايي، ټولنيزې ودې، تمدن او عدالت ته رسيدل ناشونی دي. کابو نهه لسيزې وړاندې داماني دورې اصلاحات لويديځو رسنيو په آسيا کې دبې مثاله بدلونونو په توګه يادکړل، چې هغه مهال حتی هند او چين له دې کاروان او بهير څخه ډير وروسته پاتې وو. لاندې ددې ډول ليکونه څخه يوه يې وړاندې کيږي.

# افغان واکمن نوی تمدن خوښوي

## امیر دپیژندګلوۍ ترلاسه کولو په موخه اروپا ته په سفر بوخت دی

لیکوال:جی.دبلیو.تی.میسن

سرچینه: ستاره صبحګاهي ورځپاڼه (The Sunday Morning Star)

له یونایټیډپرس څخه اخیستنه، ۱۹۲۸ زکال دجنوري ۲۹ مه

۱۹۲۸زکال د جنوري ۲۸مه، نیویارک: اروپا ته دافغانستان دامیر سفر، چې په کې امیر غواړي دلویدیځ تمدن له نویو نظریاتو سره ځان اشنا کړي منځني ختیځ ته یو ډیر مهمه پیښه ده. له جاپان پرته بل هیڅ یو شرقي هیواد د خپل هیواد په نوي کیدو کې بریالی شوی نه دی. سیام (ننی تایلینډ) په دې اړه هڅې کوي. خو چین تر اوسه پورې په دې برخه کې ګام نه دی پورته کړی او هندګیر پاتې شوی دی. شرقي هیوادونه د پرمختګ په اړه ډیرې خبرې کوي خو د هغې د عملي کولو وړتیا نه لري.



خو په افغانستان کې دنړیوالې جګړې له پای ته رسیدو وروسته دپرمختګ لپاره یوه پیاوړې اراده لیدل کیږي او امیر هم له ځان نه زړورتیا ښودلې،څو د یو روښانه واکمن په توګه وپیژندل شي. نوموړي په ۱۹۱۹ زکال کې واک ترلاسه کړ او اوس ۳۵ کلن دی. واک ته تر رسیدو دوه کلونه وروسته یې له لویې برتانیې سره هوکړه لاسلیک کړه چې له مخې یې دافغانستان بشپړه خپلواکي په رسمیت وپیژندل شوه. له دې ډول پیل سره د ټولو پام افغانانو ته، چې وکولای یې شول خپل هیواد له شرقي نابرابرۍ څخه بهر کړي او له لویدیځو فعالو ولسونو سره ځان مساوي کړي اوښتی دی.

## ديني باورونو ته په درناوي ټينګار کول

امير امان الله (مسلمان) دی خو د خپل مسافرت په پيل کې دخپلې وينا پرمهال يې ديني باورونو ته په درناوي ټينګار وکړ. چې د مسلمانو هندي ورونو په منځ کې يې د شور سبب ورګرځيده. نوموړی اروپا ته دسفر پرمهال په بمبۍ ښار کې دصدر په نوم يو جومات ته د وعظ کولو په موخه دعوت شوی و. نوموړي په خپلې وينا کې دپيغمبر له پيروانو څخه نورو اديانو ته د درناوي غوښتنه وکړه نورو مسلمانانو ته په وينا کې نوموړي د بيلابيلو اديانو ترمنځ په همکارۍ ټينګار وکړ او زياته يې کړه، چې دده په افغانستان کې دمسلمانو افغانانو او هندو افغانانو ترمنځ هيڅ ډول توپير شتون نه لري. په هند کې په تکراري توګه دا ډول يو نصيحت ارزښتناکه دی. ځکه چې د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ دښمني د هند د خپلواکۍ مخه نيولې وه.



افغانستان له نړيوالې جګړې وروسته په رامنځ ته شويو ناڅرګنده حالاتو کې هير شوی دی. ډيری هغه کسان چې د افغانستان په اړه په څه پوهيږي دکپلينګ او نورو ليکوالانو له ليکنو څخه، چې افغانستان د روسي او هند ترمنځ ديو حايل هيواد په توګه معرفي کوي استفاده کړي. هغه ځای چې سياسي توطيې په کې تل دوام لري خو افغانان په حقيقت کې له دې ډول يو فکر او ليدلوري څخه کرکه لري. هغوی دروسي بلشويکو د مبلغينو مخه نيولې او په مساوي توګه يې د مسلمانو هندي توطيه ګرانو له ملاتړ څخه سرغړونه کړي.

اوس افغانان داسې حقيقت څرګندوي، چې لومړنی سواد او زده کړه يې په هيواد کې وړيا او حتمي ده او هغوی چې غواړي زده کړې وکړي

پښتو ۷مه ګڼه، چنګاښ ۱۳۹۵ - جولای ۲۰۱۶

نــو زده‌کــړې ورته وړیا دي. د زده‌کړې په ډول کې نوې تجربې ترســره کیږي. یو ښــونځی د المان او بل د فرانســې له لوري پرانیســتل شوی دی. څو ولیدل شي چې کوم نظام غوره دی. وړیا قضایي نظام هم جوړ شوی چې په وسیله یې د دعوې لوري کولای شي د خپلې خوښې سره ســم خپلې شــخړې له منصفه هیئت سره پرته له دې چې د محکمې له رسمي پروسې څخه ووځي درج کړي.


more emphatically than any other comparison could show how far the position of American labor is from the position of the American administration.
That this letter, entirely aside from any effect it may have in Havana, will strengthen the Pan-American Federation of Labor, of which Mr. Green is president, seems to admit of no doubt.

AFGHAN RULER LIKES MODERN CIVILIZATION

(Continued from Page 17)

is free and compulsory, and higher education also is free for those who desire it. New experiments in educational methods are being tried. One school under German and another under French superintendence have been opened to determine which system is the better. A system of free justice has been adopted whereby litigants may, if they desire, submit their differences to unofficial juries in their own localities, instead of going through the formal process of

ern advancement are being adopted, including the establishment of governmen factories and workshops to educate th public in scientific methods of industry The Ameer expects to advance these pro jects and add new ones as the result o what he sees during his tour of Europ His country is mountainous, and it ha been said that his ambition is to mak Afghanistan the Switzerland of th Orient.
The success of the Afghans in sel improvement cannot fail to have a stim ulating result on other nationalities eas of Suez, where so much ferment is nov stirring. Political agitators, howeve must give way to leaders accustomed t thinking in terms of practical affairs, a the Afghan influence spreads. The Af ghans have demonstrated that their suc cess is the outcome of discipline an hard work, and has nothing to do wit intrigue and conspiracy on the part o politicians. The Ameer's acceptance o western standards in utilitarian affair despite his conservative Moslem train

دپرمختګ له رامنځ ته شویو اساسي اصولو څخه یو یې هم د دولتي فابریکو او کارخانــو جــوړول دي، څــو عــام وګــړي دصنعت د عملــي طریقــو پــه اړه زده‌کړه ترلاسه کړي. امیر په پام کې لــري، څو اروپا تــه د خپــل ســفر پرمهال یــادو پروژو ته وده ورکړي او نوې پروژې رامنځ ته کړې. دنوموړي هیواد غرنی دی او ویل کیږي چې نوموړی هیله لري،څو افغانستان د شرق سویس کړي.

دافغانانو بریالیتوب کولای شي،دشــرق په نورو ولســونو د پام وړ او محرک اغیز ولري. چیرته چې اوبه په څپو دي. داچې د افغانستان اغیز پراختیــا پیداکوي سیاســي وران‌کاري باید خپل ځای هغو سیاســتوالو تــه چې پــه عملي تفکر باندې عادت دي پریږدي. افغانانو ښــودلې،چې بریالیتــوب یې دهڅو او انضباط پایله ده او دتوطیه ګرو سیاســتوالو له رول ســره هیڅ ډول تړاو نه لري. د امیر له لوري د چارو د اغیزمنتوب لپاره د لویدیځو معیارونو منل،ســره له دې چــې په یوې محافظه کاره اســلامي ټولنه کې یې وده کړې کیدای شــي افغانستان دمنځني ختیځ په رهبر بدل کړي.



لیکونکی: فروزان

# د دهمزنګ د ټولوژنې د قربانیانو له کورنیو سره لیدنه



د ۱۳۵۹ کال د زمری په ۲، ځانمرګو بریدګرو د کابل په دهمزنګ سیمه کې د «روښنایي غورځنګ» پر لاریون برید وکړ او په پلازمنیه کې یې یوه ستره غمیزه رامنځ ته کړه. د دغه جنایت په پایله کې، د ۹۰ تنو څخه ډیر معصوم ځوانان ووژل شو او ۳۰۰ تنه نور ټپيان شول. که هرڅه د دغې ځناوریزې پیښې پړه د داعش ځناوري ډلې په غاړه واخیسته، خو تر اوسه ډیري پوښتنې د دهغې پیښې په اړوند شتون لري چې باید حکومت هغې ته ځواب ووایي.

حمد شریف دولتشاهی، ۳۷ کلن د ښوونې او روزنې وزارت کارکونکې، د دغې خونړۍ پیښې د شهیدانو څخه یو تن دي. له هغه څخه یو درې کلنه لور د ستایش په نامه پاتې ده چې تر اوسه د خپل پلار د راتللو په تمه ده، او بې خبره ده چې هیڅکله به خپل پلار و نه ويني.

د دولتشاهي دردیدلې کورنۍ تر نن ورځ پورې ډیر زیات کړاونه لیدلي دي، د هغه د زیږدلو څخه مخکې، پلار يې، یونس دولتشاهی تاج د حفیظ‌الله امین وژونکو هغه د خپلو مخکښو فعالیتونو او افکارو په لامل


احمد شریف دولتشاهی

په نیمه شـپه کې له کور څخه ویوړ او وی واژه.
د خپل ژوند تریخ برښلیک داسي تعریف وي:
«لـه هغې وروسـته چې زما خاوند یي ویوړ، یو کال بې‌برښـلیکه په افشارو کې پاتې شـو او بیـا لاړو وطن ته. په هغه ځاي کې مي ډېرې سـتونزی تیری کړلی. احمد شریف کوچنـې وو، واده ته تلو آن تر دي چې د اغوسـتلو لپاره یي بوټان نـه درلـودل، خپلـې زړې کلوشـی مي، د پاسه مي په ټوټه کیښـودله ور پښو می کړلـی او واده ته مي ولیږه. په سلګونو بدمرغیو او ولږو مـي همـدا دوه بچـي لوی کړل او همدغه ځاي ته مي ورسـول. د اوړی په ګرمی کې مي غنم ریبل تر څو بچي مـي چاتـه اړ نه شـي. ټوله ځوانې مي په درد او کـړاو او بیوزلۍ کې تیره کړه.»


احمد شریف دولتشاهی ورور او مور

احمد شـریف د خپل لیسـانس دوره د اقتصاد په څانګه کې پاي ته رسـولي وو او د باختر پوهنتون څخه د ماسټری لاس ته راوړلو په حال کې وو.
عصمت شریف، د احمد شریف مشر ورور وایي:
«ډېر شـمیر د مردکیو په لړیدلو شـهیدان شـول. په انځورونو او فلمونو کې وګوری چې ډېر شـمیر یي ډزو په ترخ کې شـهیدان شول، دغه دا څرګندوي چې دولت په کې خپله لاس درلود، دولت ورته خپله لاره جوړه کړی ده.»
شاه‌حسین حیدری، ۲۷ کلن، د دغې خونړي پیښی بل قرباني دي. شـهید حیـدری په یـوې غریبې کورنۍ کې لوی شـوی او پـه دو کلنۍ



شاه‌حسین حیدری

کې يي خپل پلار د لاسه ورکړ. هغه د خپلې کورنۍ يوازينۍ ډوډۍ راوړونکې وو. اوس يي مور او دری خويندی او يو خورزه بې برښليک دي او په يو کرايی کور کې د کابل ښار په دشت برچی کې تريخ روزګار لری.

څو کاله مخکې، حيدری په غزنی کې د يو ماين د چاودنی په پايله کې خپله يو سترګه او ګوتی د لاسه ورکړی، خو هيڅکله ناهيلې نه شو او د شپې ورځنۍ کوښښ په ترخ کې په هند کې د لسانس درجي تحصيلی بورس لاس ته راوړ او يو مياشت مخکې فارغ شوی وو. د دي په څنګ کی، هغه د رسامۍ سره ډيره ليوالتيا درلودله د معلولتوب سره يي ځينې وختونه رسامی کوله.


خديجه، د شهيد شاه‌حسین حيدری مور

خديجه، د شهيد حيدری مور چې د ډير غم او ژړا څخه يی د خبرو کولو وس نه درلوده، له خپل ځان سره يي وويل:

«زوی مې نوی ګټي ته رسيدلی وو. په زرګونو ستونزو مي لوی کړ. بدمرغه شوم. د کور ډوډۍ راوړونکې يي راتـه وواژه. د مور نازولی، په ځواني کې د خاورو لاندي شو...»




محمد علی د شهید حیدری ورور هم د خپلی کورنۍ سره غریبانه ژوند لری، د دوو کالو څخه راپدې خوا وزګار دی او د نفقي موندلو لپاره لالهانده دی.

محمد علی د شهید حیدری ورور هم د خپلی کورنۍ سره غریبانه ژوند لری، د دوو کالو څخه راپدې خوا وزګار دی او د نفقي موندلو لپاره لالهانده دی.او هغه وايي د پلار دشهادت څخه وروسته، د ټولې کورنۍ مسولیت د هغه په اوږو ولوید، په همدي لامل يي ونه شو کولای چې ښوونځي ولاړ شی، خو تل يي هڅه کوله چې حیدر زده کړه وکړی او په راتلونکې کې د هغه سره مرسته وکړی. خو نن ورځ يی هغه د لوی غم سره خاورو ته وسپاره.

شهید احمد شریف دولتشاهی او شاه‌حسین حیدری یوازی د دهمزنګ خونړي برید شهیدان نه دي او لسګونو تنو نورو د هغوي په خوا کې ژوند د لاسه ورکړ چې هر يو يی تحصیل کړی انسانان او د خپلې بی‌وزلي کورنۍ ډوډۍ راوړونکي وو. د دهمزنګ د شهیدانو وینې څخه یوازی کولای شو د بنسټپالو او دولتي او غیر دولتي مرتجعو، او زاړو او نوی څرګند شو جنایتکاره مشرانو او د روښنايی غورځنګ معامله کونکو سره په مبارزې ساتنه وکړو.





# د همبستګۍ ګوند د «مس عینک ژغورل» مستند نندارې ته وړاندی کړ



د ۱۳۹۵ کال د زمری په ۱۴مه نیټه، «د افغانستان همبستګۍ ګوند» د ښاغلي برنت هاوفمن (Brent E. Huffman) د «مس عینک ژغورل» مستند جوړونکې سره په همغږی د لومړی ځل لپاره په افغانستان کې دغه فلم ننداری ته وړاندی کړ چې د ګوند لسګونو تنو غړو او پلویانو هغه ولید او په دغه لړ کې د هیواد د تاریخی آثارو لوټ او خرابو شرایطو په اړوند خبری اتری وشوی او د ملی شتمنیو د ارزښت او ساتنی په اړه هم خبری وشوی.

«مس عینک ژغورل (Saving Mes Aynak)» یو مستند دي چې په لوګر کې د برنز په عصر کې د بوادیی تمدن د اوسیدنځایونو خطرناکه وضعیت چې ۵ زره کاله تاریخ لری انځور ته راکاږی. مس عینک چې د سویل ختیځ لوری ته د کابل په ۴۰ کیلومتری کې واقع شوي، د چیلی هیواد څخه وروسته د نړۍ دویم د مسو لوی کان درلودلو په خوا کې، د هندویزم، بودایی او زردشتی د دینونو ترمنځ ګډ ټکې لری او د کوشانیانو په وخت هغه ځای وو چې د یونان، پارس، منځنې آسیا او

هند پخواني فرهنګونه يو له بل سر نښلول.




مستند د مس عينک د لرغونو اثارو زړبوړنونکو حالتو په انځور او د ښاغلي قادر تيموری، ځوان افغان لرغونپېژندونکي په خبرو پيل کيږي:

«ډېر باارزښته او ډېرې اړينې خيرنې او هڅې چې موږ درلودلې په مس عينک کې دي، چې د هغې په ساتنه او خونديتوب کې خپلې هڅې او کوښښونه به ډېری کړو او که چيری زموږ ژوند هم د لاس لاړ شي، موږ به له هغې څخه ساتنه وکړو.»

او همدغه ډول هم ده: قادری او نور ځوان لرغونپېژندونکي یاران يي په خورا لږو فني امکاناتو او هوسايني د افغانستان په يوې ډېری ناامنه سيمه کې چې پر هغې باندې د طالبانو کرغيړن سيوری خپور شوی دی، څيړنه ترسر کوی تر څو د هيواد لرغوني تمدن يو برخه وژغوری. ددغه مستند ډېره برخه د لرغونپېژندونکي قادری په ژوند او کار باندي تمرکز شوی، ګورو چې هغه سره له دی چې د کابل ښار غره لمن کې غريبانه ژوند او ختين کور لری، د خطر په منلو خپل کار ته ادامه ورکوی. هغه، د خپل درد احساس د افغانستان د بی‌ساری آثارو له ويجاړولو څخه دارنګه بيان وی:

«په داسی ډول لکه چې د يو مور ماشوم مړ شي، همدغه ډول بد احساس موږ ته مخ کيږی، ځکه چې ډېر زيار اوباسو. کله چې په ډېر زيار سره يو اثر لاس ته راوړو او ويجاړ شي، فکر کوو چې د يوی مور ماشوم د هغې په مخ کې مړ کيږی، هماغه ډول احساس پيدا کوو.»



د «مس عینک ژغورل» مستند ننداره

په ورته وخت کې، په اصطلاح د «نړیوالی ټولنې» د مرستو او د دولت بی‌کفایتی څخه شکایت دي:

«...عجیب ده، زه له دغه څخه خواشینی یم. تاسو د لرغون پیژندي حالت لیدلی دي چې په څه حال دي، د همدغه لسو کالو په لړ کې چې مرستې شوی، خو په پای کې ګوری چې لرغون‌پیژندنی اداره ویجاړه پاتې ده. یعنی یو ځاي دي چې نه کمپیوتر شته، او نه کیمیاوی مواد شته، یوی ویجاړی ادارې ته پاتې ده. تل، نه پوهیږو چې څه ډول دغه پیسي تالان شوي... دغه شمیر پیسی چې چینایان دولت سره مرسته کوی، زه فکر کوم د ټولو هغه پیسو په شان چې د نړیوالې ټولنې له خوا مخکې مرسته شوی وی، او تالان شوی، دغه به هم تالان شی. خو ددې تر څنګ، د دي لپاره خواشینی یم چې زموږ تاریخ او پیژندده هم له دغه روپو سره یوځاي تالان کیږی او له منځ ځي.»



مخکی له دی چی د مس عینک په ساحه کی خبنی پیل شي د آثارو یوه برخه د قاچاقبرانو له خوا لوټ شوه.

د «مس عینک ژغورل» مستند کې کولای شو ووینو چې له یو خوا دولتي تېټپوړي چارواکی لکه ښاغلي قادري په ډول ډول ستونزو خولی تویوي، خو له بلې خوا د دولت لوړپوړي چارواکي په بډو او غلا ککړ دي. وحیدالله شهراني، د کانونو او صنایعو د وخت وزیر، یو د دغه ډول کرغېړنو خیرو څخه ده چې ۱۳۹۲ کال د اورې میاشتې په ۱۱ نېټه د «هشت صبح ورځپاڼې په تفصیلي راپور کې د هغه د فساد او لوټماریو څخه پرده پورته کړې خو تر اوسه پورې پوښتل شوی نه دی.

د «واشنګټن پسټ» ورځپاڼې د ۲۰۰۹ کال د نوامبر په ۱۸ نېټه، د ابراهیم عادل، د افغانستان د کانونو پخواني وزیر له فساد څخه پرده پورته کړه او په ډاګه یې کړه چې هغه د ۳۰ میلیونو ډالرو بډو په بدل کې، د لوګر «مس عینک» قرارداد یې د MCC چینایي شرکت ته ورکړی دي او د یو امریکایي چارواکي له خولې لیکلي چې نوموړی دغه پیسې په دوبۍ کې تر لاسه کړې.



د دې نه وروسته، مستندجوړونکې د «چین د فلزاتو استخراج او ویلې کولو شرکت» (China Metallurgical Group Corporation – MCC) کارکول څېړي. نوموړی شرکت چې د مسو د را ایستلو تړون یې لاس ته راوړی دي، په چین کې د کانونو د راایستلو په وخت کې د بې‌پروایي په لامل د ژوند چاپېریال په ککړولو تورن دي. دغه شرکت د مس‌عینک د شپږ کلیو اوسېدونکې یې د مسو د راایستلو لپاره د ځای برابرولو لپاره د درواغجنو ژمنو په بدل بې ځایه کړې دي. د سیمې خلکو خپل

کورونه او اسـتوګنځایونه یې د لاسه ورکړل خو څوک یې غږ نه اوري. د مسـتند یـوه برخه د بېځایه شـوو خلکو د درد څخه ډکـو کوکارو ته ځانګړې شوې ده.

کـه هر څه، تیمـور قادري او نـور لرغونپېژندونکـي د مس‌عینک د بودایي تمدن څخه پاتې اوسـیدنځایونه د ژغورلو لپاره هڅه کوي خو تر اوسـه هم د دغې لرغونی تمدن او د ځمکتلې شـتمنې شتمنه سیمه تیاره راتلونکې ګواښې.



دغه غیرانسـاني او ملي ضد چلند یوازې د مس‌عینک په آثارو پورې تړلی نه دي، نورې هغه سـیمې چې تاریخي ارزښـمند آثارو درلودونکې دي هم بد روزګار لري او د مافیا خوراک کیږي: د کابل تنظیمي جګړو په لړ کې، د کابل موزیم آثار د تنظیمونو له لوري تالان شول؛ د آی‌خانم لرغوني ښار آثار د تنظیمي قومندانانو په وسیله لوټ شول؛ د بودا بتان د منځنۍ پیړۍ طالبانو په واسـطه له منځ یوړل شـول او په لسګونو نور جنایتونه.

د هیواد د تاریخي خزانو او سـرچینو څخه سـاتنه، د دغې خاورې د هر پوه او بامسولیت اوسیدونکي دنده ده. هغه ولس چې ونښي کولای د خپل تاریخ او لاس ته راوړنو څخه سـاتنه وکړي په له منځه‌تلو باندې محکوم دي او پیژندګلوی به یې د وخت په تیریدو له منځه ولاړه شي.

## د اچين په ولسوالۍ کې د امريکا جنګي جنايات | دوام...

...خو يو ځل د الوتکې غږ خپور شو او وروسته مې ډېر ويريدونکې غږ واوريده. خلک هرې خواته پراته وو او وروسته پوه نه شوم چې څه شوي دي. سترګې چې مې وغړولې په روغتون کې وم.»

دا لومړی ځل نه دی چې بې وزله او غريب خلک د ځناورو امريکايي ځواکونو قرباني کيږي. څه موده وړاندې د بې پيلوټه الوتکو کارکونکو په دغه برخه کې يې د امريکا له جناياتو څخه پرده پورته کړې وو او ويل چې ددغه ځانګې ډېرئ کارکونکي پرته له دې چې هدف په نښه کړي، هغه بمبار کوي چې د هغې ډېرئ قربانيان غير نظاميان دي. د ع او غ لاسپوڅي دولت امريکايي عساکرو ته د قضايي خونديتوب په ورکول هغوی په افغانستان کې د قانوني چالچلند څخه معاف کړي دي.









زاهدالله

بلال، هغه ماشوم چې د کورنۍ ۵ غړي يې په دې پيښه کې ووژل شول او هغه خپله ټپي شو.

# «د افغانستان د همبستګی ګوند» خپروني تاسو کولي شی په کابل او ولایاتونو کې له لاندي پتو څخه تر لاسته کړئ:

## کابل

**نمایندگی انجمن نویسندگان افغانستان**
جوار پارک تیمور شاهی

**شرکت کتاب شاه محمد**
چهارراهی صدارت

**کتاب فروشی مقدم**
مارکیت جوی شیر کابل

**کتابخانه وحدت**
نیاز بیک، دکان حاجی

**کتاب فروشی معلم محمد وحید**
د افغانستان آریانا مارکیت، دکان اول

**کتاب فروشی رفیع الله**
پل باغ عمومی، لب سرک، زیر پشتنی بانک

## هرات

**کتاب و قرطاسیه فروشی عبدالجبار "یعقوبی"**
جکان غوند یازده،
مقابل مکتب متوسطه خلیل الله خلیلی

## بلخ

**کتاب فروشی عبدالغفور عرفانی**
**کتاب فروشی عبدالرازق انصاری**
مزار شریف، چهارراهی بیهقی،
پوسته خانه شهری

**کتاب فروشی فیروز**
مقابل نشنل بانک پاکستان

## تخار

**فوتوکاپی آمو، نجیب الله رحیمی**
تالقان، بندر بدخشان، مقابل فوائد عامه،
دکان نمبر ۱۰

## کندز

**قرطاسیه فروشی محمد هارون**
جاده ولایت

## بامیان

**کتابفروشی محمد ظاهر حیدری،**
جوار سبزی فروشی، شهر بامیان

## غزنی

**کتاب و قرطاسیه فروشی توحید**
شهرک البیرونی، جاده خاتم الانبیا

**کتاب و قرطاسیه فروشی احمدی**
پلان سوم، کوچه زیارت خواجه علی

**کتاب فروشی فرهنگ ۱**
جوار کتابخانه عامه

**کتاب فروشی فرهنگ ۲**
سرک تانک تیل کهنه، رسته نجارها

## ننگرهار

**کتابفروشی سیار**
ولسوالی خیوه

## کنر

**کتابفروشی احمد ظاهر**
چغانسرای، سرک قومندانی

## فراه

**کتابفروشی عزیزی**
واقع ناحیه سوم،
مقابل لیسه نفیسه توفیق میر زایی

## بغلان

**کتاب و قرطاسیه فروشی فردوسی**
شهر پلخمری، مقابل غضنفر بانک

## بدخشان

**کتاب و قرطاسیه فروشی ضیایی**
فیض آباد، دشت شهدا، مقابل تربیه معلم

## نورستان

**عکاسخانه، فوتوکاپی و قرطاسیه فروشی میا**
روبروی مسجد انصاف مارکیت، پارون - نورستان

# درديدلو هيوادوالو،

کــه د خپلــواک، آزاد او دموکــرات افغانســتان غوښــتونکی ياست؛ که د افغانستان د سرلوړۍ او بې‌وزلو خلکو د هوساينې هيله په زړه کې لرئ؛ که غواړئ د نيواکگرو او د هغوی چوپړانو د جنايتونو او خيانتونو پر وړاندې خپله دنده ترســره کړئ، نو د «افغانســتان د همبستګۍ ګوند» سره يوځای شئ او د خپل ګوند خپرونې په پراخه توګه د خلکو په منځ کې خپرې کړئ.


پته: پست بکس شميره ۲۴۰، مرکزی پسته‌خونه
کابل ـ افغانستان

ګرځنده: 0093-700-231590
بريښناليک: info@hambastagi.org
ويب‌پاڼه: www.hambastagi.org
فيسبوک: facebook.com/Afghanistan.Solidarity.Party
facebook.com/hambastagi
تويتر: twitter.com/solidarity22
يوټيوب: youtube.com/AfghanSolidarity


د «افغانســتان د همبســتګۍ ګوند» د خپلو کړنو مخکی وړلو لپاره د غړو حق‌العضويت او د پلويانو مرســتو ته اړتيا لرئ. په خپلو نقدی مرستو له مونږ سره همغږي شئ:

Azizi Bank
Koti-e-Sangi Branch, Kabul, Afghanistan
Name: Sayed Mahmood
Account No: 001903204644917

THE Voice of Solidarity
(HAMBASTAGI GHAG)

A Monthly Publication of the Solidarity Party of Afghanistan

7

PASHTO

JULY, 2016




د ۱۳۹۵ کال د زمری په ۲۲مه د امریکایی پوځیانو په هوایی برید کی د پکتیا ولایت خوشامن ولسوالی په میناری کلی کی له ۲۰ تنو څخه زیات ملکی وګړی په شهادت ورسیدل. ۲۲ مخ

د ۱۳۹۵ کال د تلې په ۷ نیټه (۲۰۱۶ د سپتامبر په ۲۸) د ننګرهار ولایت اچین ولسوالۍ د شدل کلی خلک د حاجی احمد شاه څخه چې د حج له مراسمو څخه راستنیدو د هرکلی لپاره راټول شوی وو. خلک د دیګ په پخولو او او میلمنو ته د ډوډۍ په چمتو کولو بوخت وو چې دوه جیټ اولوتکې او یو امریکایی بې پیلوټه الوتکې په بمبار باندی پیل کوی چې په پایله کې یی 14 تنه وژل کیږی او 16 نور ټپیان کیږی. ۲۷ مخ

